چه دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی
رحمان بابا

د اروابناد استاد الفت د نا چاپ شوي آثارو څخه:

# نوی څرک
# یا
# نوې رڼا

Ketabton.com

لیکوونکی: ګل پاچا (الفت)

اسد ۱۳۲۲ هجري ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سر ليك: | مخ: |
|---|---|
| ماخذونـــــــــــــــــــــــــــــه | |
| نـــــــــــوی افکــــــــــــار | ۱ـ۷ |
| پښـــــــــــتو او سانســــــــــکرت | ۸ـ۱۹ |
| پښـــــــــــتو او فارســـــــــــــي | ۱۹ـ۲۴ |
| ترکيـــــــــــب او اشـــــــــــتقاق | ۲۵ـ۳۸ |
| د ژبـــــــو عمـــــــومي ويـــــــش | ۳۹ـ۴۱ |
| د ژبـــــــو عمـــــــومي تـــــــاريخ | ۴۲ـ۴۴ |
| د لغـــــــاتو تغيـــــــر او تحـــــــول | ۴۵ـ۴۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

کومه تتبع چې زه ئې له څه وخته د پښتو په شاوخوا کښې لرم او هغه الهامات چه وخت په وخت د يوې ذهني توجه په اثر کښې ماته پيدا شويدی د يوې رڼا په صورت ئې له ما سره د دې کتاب په ليکلو کښې مرسته کړېده وروسته تر دې ځينې متفرق يادداشتونه او د پښتو او فارسی قاموسونه لکه بيلو، راورټی، برهان قاطع او هغه کتابونه چه په لسانياتو او لساني مسايلو باندې بحث کوي لکه د جرجی زيدان فلسفة اللغويه يا سخندان فارسی او ځينې متفرق مقالات د دې کتاب ماخذونه بللی شو. مګر پخپله پښتو ژبه اصلي او اساسي ماخذ دی او هغه ذهني واردات چه د هر چا دپاره منحصر بفرد نسخه وي او د دماغ محصول بلل کېږي د کتاب اصلي عنصر بلکه روح ګڼلی شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# نوی افکار

که سړی د انسان ذهني او فکري حال له نظر لاندې ونیسي او د بشر دماغی اکتشافات د زماني او تاریخ په صفحه کښې ګوري یقین به وکړي چه هر نوی فکر په لمړی وخت کښې ډېر غریب په نظر راغلی او هر چا ته لکه جنون او لېونتوب ښکاره شویدی مګر همدغه جنون د دنیا د ډېرو اشخاصو د محدود او محصور ذهنیت پرده څیرلی او یوه نوی رڼائې خلقو ته څرګنده کړېده.

ډېرو پوهانو او لارښودونکو په اول وخت کښې د هغې خندا صله اخستی ده چه د ملنډو او مسخرو په وخت کښې پیدا کېږي مګر وروسته د ملتو او اقوامو په تحسین او آفرین بدله شوېده.

د دې خبرې مطلب دا دی چه ډېر حقایق په دنیا کښې په خوارو سترګو کتل شویدی مګر وروسته ئی احترام او تقدیر شویدی نو که کله ستاسې په مغزو کښې کومه نوی رڼا د یوې برېښنا په څېر وځلېږي هېڅکله ورته په سپکه سترګه مه ګورئ او د چا د منلو او نه منلو پروا مه کړئ.!!

ډېر ځله سړی یو خوبویني او هغه ټکی په ټکی ربنتیا شي ډېر کرته سړي ته په وینه یوه سودا پیدا شي او هغه حقیقت پیدا کړي.

که تاسی خپلو نفسی کیفیاتو ته ښه ځیر شئ کله سړی یو ځای یا یو وضعیت وینی چه هغه ورته اشنا معلومېږی، نو بیا وایم چه خپلو تصوراتو ته په بې اعتنائي ونه ګورئ او تعقیب ئې وکړئ.

که تاسې د دنیا د مخترعینو حال او احوال په نظر کښې ونیسئ یا د هغو فلاسفه ؤ ژوند ته وګورئ چه دنیا ته ئې نوي افکا او نظریات راوړي دي هغوی ته به هر چا په پټه او ښکاره لیونیان ویل او سودایان به ئې بلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرزا بېدل وائي: (که چېرې له نبوته منکر نه ئې د خطراتو استقبال هېڅکله بې تعظیم مه کوه). ډېر ځله د سږي کاله ته مسافر مېلمانه پېښېږی چه د ډېر فضیلت خاوندان وي مګر سړی ئې نه پېژني نو دغسی مېلمانه که څه هم په ظاهره له ګرد او غبار څخه ډك وي او خوار و زار معلومېږي د قدر او عزت حق لري چه باید سړی ئې له حال احواله ځان خبر کاندي.

پدې ټولو خبرو کښې د غرض ټکی دا دی چه کله کله سړي ته ځینې افکار او نظریات د یوې سودا په څېر یا د یوه موهوم خیال په ډول پیدا کېږي او دی د دې لامله چه خلق به پرې وخاندي او نه به ئې مني هېڅ نه وائي او پټه خوله ناست وي.

د دغسې ډار او وېرې بت باید ارومرو مات کړ شي او د نظریاتو مخه هېڅکله ونه نیول شي- د یوه کام د ذهني ارتقا او دماغي انکشاف دپاره دا کار خورا ضرور او لازم ایسي.

انسان باید تر یوه حده پخپل فکر باندې یقین او اعتماد پیدا کړي ځکه چه ډېر ځله د خیال په رڼا کښې نبه نبه نظریات جلوې کوی او د ذهن په نېینه کښې صحیح افکار منعکس کېږي چه باید هرګوره ئې ښکاره او څرګند کړو.

هره نظریه چه په اول وخت کښې ښکاره کېږي ښائي چه څه سهوې او څه حقایق پکښې وي د فکر خاوندان د ډېر لږ حقیقت دپاره ډېرې سهوې عفوه کوي او قدر ئې کړی.

خبره په تمهید ډېره غټه او درنه شوه، زما دپاره همدومره کفایت کوي چه ښاغلو لوستونکو ته دا څرګنده کړم چه زه د خپلې ژبې (پښتو) په شاوخوا کښې خپل خواره واره افکار را ټولوم، زما پدې پریشانه خوب کښې به هر هرڅه وي یعنی صحیح او غلط دواړه به لري او ښائي چه ځینو کسانو ته اضغاثُ احلام معلوم شي مګر دا خو ښکاره ده چه د هرې ژبې لمړی تحقیقات نواقص لري او همدغه ناقص تحقیقات وروسته تکمیل شي او علمی اساس پیدا کړی.

ډېر ځله یو غلط تحقیق د حقیقت د کشف باعث کېږي او د خپل ضد د معرفت وسیله شي- څوك چه د سعی او عمل طرفداران دي هغوی به ماته دا حق راکړي چه زه باید خپله هغه سودا چه د تتبع په لاره کښې ماته پیدا کېږي ښکاره کړم او څه ولیکم.

زه پخله هم دا نبه ګڼم چه باید خپل ځان او خپل افکار پټ نکړم ځینې کسان وائي چه د تصنیف خاوند خپل ځان د ملامتۍ هدف ګرزوي او خپل مس ښکاره کوي مګر ماته دا بده ښکاري چه سړی خپل مس د زرو په نامه خلقو ته معرفي کوي یا ئې بیخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښ ساتي چه ګوندي خلق ورباندې بل شان ګمان وکړي. څومره چه ريا ښه کار نه دى همدومره تلبيس هم بد کار دى.

د همدغې مفکورې په اساس د لوى خداى په مرسته او د خپلې ملي ژبې د مينې په باعثتيا د دې اثر په ليکلو پيل کوم.

دلته د لغاتو په اصل او ريشه باندې بحث کېږي او د ځينو لغتونو د ترکيب او اشتقاق په شاوخوا کښې خبرې کوم مګر د اشتقاق له کلمې څخه بايد دا ګمان پيدا نشي چه دلته به د پښتو هغه صرف ليکل کېږي لکه چه ګرامر ليکونکى ئې ليکي او له مصدر څخه د ځينو کلماتو لکه:- ماضي، فعل حال، اسم فاعل يا داسې نور... د جوړېدلو لاربښئ. دلته مقصد له اشتقاق څخه هغه اشتقاق دى چه په عربى صرف کښې اشتقاق کبير بولي چه هغه د دوو کلمو ترمينځ په لفظ او معنى کښې يا يوازې په لفظ کښې تناسب پيدا کول دى لکه:- شوملې او شومل - ګروه، ګرېوان - غور، نغوړل - چه يو له بل سره - لفظي او معنوي نږدېوالى او مناسبت لري او همدغه مناسبت دا خبره ثابتوي چه دغه راز الفاظ يو له بله جوړ شوي او اختل شويدي چه دغو اختلو يا جوړېدو ته اشتقاق ويل کېږي مګر دا اشتقاق په ځينو مثالونو کښې له عام نظر څخه پټ وي او هر څوک ئې نشي منلى ځکه چه دغه راز تحقيقات لږ څه نوي دي او لکه ځينې نور مسايل عمومى ډګر ته نه دي راوتلي چه هر څوک ئې ومني او تصديق ئې وکړي.

ډېر ځله په ځينو مجالسو کښې سړى له يوه او بله اوري چه په ځينو کسانو باندې خاندي او په بعضې اشتقاقى مسايلو ملنډې وهي. دوى ګمان کوي چه دا خبرې محض وهم او تش خيال دى چه هر څوک پخپله تصور او ګمان ځينې کلمات له نورو کلماتو مشتق بولي او ځانونه د دې علم خاوندان او د فن پوهان معرفي کوي.

زه دا منم چه هر سړى به دغه اهليت نلري او هر څوک چه پزه توره کړي هغه اينګر کېدى نشي، ښائي چه د هر چا ټولې خبرې به د منلو وړ نه وي او پدې راز تحقيقاتو کښې به په رښتيا ځينې داسې خبرې پيدا شي چه هغه به تشه سودا او خوشې وهم وي مګر که څوک دغه علم ته چه نن ورځ په دنيا کښې ډېر اهميت لري سپکه ګوري او خاندي هغه په حقيقت کښې پخپل جهل او پخپله ناپوهي خاندي او په ځان پورې مسخرې کوي ځکه چه نن دغه علم د دنيا د ډېرو پوهانو توجه خپل ځانته را اړولې ده او د اقوامو په تاريخ کښې هم زيات دخل لري، همدغه علم په رڼا کښې د ژبو قرابت او نږدېوالى او د ملتو يو والى ځلېږي او ډېرې مفيدې نتيجې لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه موضوع کښې که زمونږ تحقيقات مکمل نه وي او ځيني خبرو ته مو ګوته ونيول شي ښائي چه پوهانو زمونږ سهوې د دغه ابتدائي حال لازمه وګڼي.

مونږ بايد دې خبرې ته هم ملتفت اوسو چه د هرې ژبې په اشتقاقي مسايلو کښې د ډېرو پوهانو او لويو خلقو په نظرياتو او تحقيق کښې سهوې او غلطۍ پيدا کيږي او بې له رياضياتو په هر علم کښې ځيني داسې مسائل شته چه اعتراض او انتقاد ورباندې کېدی شي ځکه چه اکثره علمی مسايل اجتهادي وي او د اجتهاد په لاره کښې اورمرو کله کله سهوه او خطا پېښيږي مګر څومره چه يو عالم پخپلو نظرياتو کښې سهوه کيږي همدغومره يو منقد هم پخپل انتقاد کښې غلطيږي.

هر علم په ابتدا کښې د پوهانو ګمان بلل کيږي او ډېر منقدين لري مګر وروسته ورو رو زمينه مستعده کيږي او هغه مسايل چه په ابتدا کښې ئې منل ډېر ګران وي څه موده وروسته په آسانه منل کيږي او خلق ورته په ښه سترګه ګوري.

ډېر ځله يوه خبره د څو تنو په نظر کښې غلط معلوميږي مګر نور ډېر خلق ئې صحيح ګڼې او قدر ئې کوي نو هر کله چه هيڅ حقيقت په ټوله دنيا کښې بې اختلافه نه دی قبول شوی و دی شی چه دغه راز مسائل هم يو داسې حقيقت وی چه ځيني کسان به پکښې اختلاف لري لکه چه څه موده د مخه په يوه مجلس کښې له ما څخه پوښتنه وشوه چه (ښاغلی) له څه شی څنی جوړ شوی يا اخستل شويدی او د دی کلمی ريشه به څه وي ما وويل چه دا لغت به له (ښه) او (اغلی) څخه جوړ شوی وی لکه چه (ښا پيری) په اصل کښې (ښه پيری) وه او وروسته ښاپيری شوېده، دا خبره د مجلس د خلقو خوښه شوه او اروېدونکی پرې زيات خوشحاله شوه ځکه چه (اغلی) په پښتو کښې د ښائسته او حسين په معنی د شعرأ په ديوانو کښې موجود لغت دی او (ښه) هم يوه کلمه ده چه زيات له صفت سره استعماليږی لکه: ښه تور، ښه سپين، ښه ملا، ښه پوه، ښه ښايسته، ښه خوږ، ښه تريخ، او داسې نور ... چه پدې ټولو مثالو کښې (ښه) د روستۍ کلمی په معنی کښې زياتوالی او ډېروالی پيدا کوي او په دغه راز استعمال کښې پخپله کومه مستقله معنی نلري نو هر کلمه چه (اغلی) هم صفت دی او لمړی توری ئی الف دی (ښه) سره په املا کښی هم مرکب شوی او په دی دوو کلمو کښې امتزاجی ترکيب داسی قوت وموند چه اوس سړی پرې د يوې کلمې ګمان کوی نو نظر دغه تحليل ته د دې کلمې اصلي معنی ښه ښايسته او ښه ښکلی دی.

دا خبره چه نشر شوه او په ځينو اخبارو کښې ورباندی تقريظ هم وشو له هرې خوا ورباندې په جرايدو کښې څه وليکل شوه او هر چا پکښې څه وويل، ځينو اصل مفکوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره خوښه کړه او دا بحث ئې يو علمي تحقيق او تدقيق وباله مګر په مثال باندې ئې اعتراض وکړ او وئې ويل چه (ښاپېرى) له فارسي (شاه پرى) څخه جوړ شوى، ځينو نورو په اصل مفکوره باندى سخت اعتراض وکړ او وئې ليکل چه (ښاغلى) اوس هم په محاوره کښې د محترم او ښه سړى په معنى مستعمل دى نو دا کلمه له (ښه اغلى) څخه مرکبه ګڼل يوه سودا او ګمان دى.

دا راز کسان ګمان کوي چه يو غټ لغت به وار د واره همدغسې پيدا شوى وي لکه چه اوس پرې تلفظ کېږى او معنى بې هم په لمړى ورځ همدغه وه چه نن ئې لري نو د دې لامله چه دغسې کسان د کلماتو لفظى او معنوى تحول ته لږ څه ملتفت شي لازمه ده چه د دواړو رازو تحولاتو ځينې مثالونه وښيو مګر لمړى د ښاغلى په باب کښې څه خبرې کوو.

<u>ښاغلى:</u>

زما په ګمان له (ښه اغلى) څخه مرکب شوى او اصلى معنى ئى ښه ښکلى او ډېر ښايسته دى لکه چه په همدغه معنى د خوشحال خان او عبدالعظيم او نورو پخوانيو شعرا ؑ په ديوانو کښې ځو ځو ځايه راغلى لکه چه عبدالعظيم وائي: (خداى به ورکړى د جنت حورى ښاغلى) او په بل ځاى کښې د جنت ښکلى ښاغلى هم شته او لکه چه د حورو او ښکلو صفت شويدى همدارنګه د خال او مخ په صفت کښې هم ويل شوى او د ګلونو ستاينه هم پرې شوېده لکه ښاغلى خال، ښاغلى مخ، ښاغلى ګل، يا داسى نور ...

نو دغه راز ادبي شواهد او مثال يو قوى سند دى چه ښاغلى په همدغه معنى معرفى کوى او د دې تائيد کوى چه دا کلمه له (ښه اغلى) څخه جوړه شوى او اصلى معنى ئې ښه ښکلى او ډېر ښايسته دى. وروسته ورو رو دغى معنى تغير او تحول قبول کړى ترڅو چه پدې وخت کښې د مطبوعاتو له خوا د محترم دپاره خاص کړشو او د ښايست د معنى هيڅ تصور پکښې نه کيږي.

دغه راز معنوى تحول په ډېرو لغاتو کښې ليدل کيږى او ډېر مثالونه لري چه (ښه) هم له همدغسې لغاتو څخه دى.

دا لغت که په مستقل ډول استعمال شى يعنې د يوه صفت د تاکيد او مبالغې دپاره ونه ويل شي نو اصل معنى ئې معنوى خو بى او ښه والى دى مګر خلق ئې د نن ورځې په محاوره کښې د (زيبائى) او ظاهري ښکليتوب په معنى هم استعمالوى ځکه چه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه معنا ګانې ډېرې نږدې دي او په آسانۍ یوه معنی د بلې په ځای استعمالېدی شي.

په ډېرو ځایو کښې سړی له یوه او بل څخه اوری چه د یوه ښکلی مخ په ستاینه کښې وائي چه ډېرې ښې سترګې لري او ډېرې ښې شونډې ئې دي مګر غرض ئې زیبائي او ښایست وی همدارنګه ښه ګل او ښه کالی هم ښایسته ګل او ښایسته کالیو ته ویل کېږی.

کله چه مونږ وایو دا شی ډېر ښه ښکاری نو مراد ورځنې حسن او ښکلیتوب وي نو څنګه چه (ښه) له معنوی ښه والی څخه ظاهری ښه والی ته انتقال کړی دی دغه راز ښاغلی هم له ظاهری ښکلیتوب ځنې معنوی ښه والی ته تجاوز کړی او بله معنی ئې پیدا کړې ده، لکه پخپله (اغلی) چه اصلاً د ښایست په معنی دی او ځینو ځایو کښې د معنوی ښه والی دپاره هم استعمال شویدی.

سړی چه د پښتو دا څو لغتونه لکه: ښاغلی، اغلی، پېغله یا داسې نور په نظر کښې ونیسي هغه پوهېدلی شی چه د دی لغاتو په خته کښې د ښکلیتوب معنی اغږلې ده او د پېغلتوب وخت د همدی لامله چه د حسن او ښایست د کمال او تازګۍ زمانه ده د پېغلتوب په نامه یادیږي او په همدغه لحاظ جنۍ ته په دغه وخت کښې پېغله وائي که لږ څه دقت وکړو ښکلی هم په لفظ او معنی کښې دغو لغاتو ته ډېر نږدې دی او اشتقاقی علاقه ورسره لری ځکه چه (ك - غ) داسې توري دي چه په مستقیم یا غیر مستقیم طور یو په بل بدلېږی او الف هم له لوېدونکو تورو څخه دی چه زیاتوالی او کموالی ئی څه تاثیر نلری نو ویلی شو چه (ښکلی) او (ښاغلی) له یوې نیلې او ریشې څخه پیدا شوی او لفظاً او معناً نزدېوالی لری.

دغسې ډېر غټ لغتونه په ژبه کښې شته چه اوس مونږ تصور کوو چه په لمړی ورځ به همدغسې پیدا شوی وی او کومه اشتقاقی لاره به ئې نه وي طی کړی مګر د ژبو پوهان هېڅ کله پدې باندې نه قانع کېږی او پوهېږي چه د هرې ژبې لمړی لغات ډېر بسیط و، چه له دوو یا درې تورو څخه ئې تجاوز نه کاوه، وروسته ورو رو حروف او توري زیات شوي او یوې کلمې له بلې سره ترکیب موندلی دی نو داسې هېڅکله نشی کېدی چه ښاغلی به وار د واره همدغسې پیدا شوی وی او د ترکیب یا اشتقاق لاره به ئې نه وی طی کړی. د دغه علمی اساس په ډاډ مونږ ویلی شو چه (ښایست) هم لکه ښاغلی له دوو جزو څخه مرکب دی چه یو جزئی (ښه) او بل جز ئې له (اېسېدل) څخه ماخوذ دی ځکه چه اېسېدل د نمایش او نمودن معنی لری او ښایسته هم د خوشنما په معنی راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته ښائي چه د لنډ نظر خاوندان وار د واره ووائي چه په ښايست او ښايسته کښې نو (ت) له کومه شوه مګر مونږ د لغوي څېړنې د بدلېدونکو تورو په بحث کښې ويلی دی چه (د- ت) يو له بله بدليږی او ډېر مثالونه لری نو کېدی شی چه د ابسېدل دال په (ت) بدل شوی وی يا (ت) د تلفظ په اقتضا پکښې زياته شوی وی لکه چه په (ايسی - را ايسی) کښې ايسته، را ايسته ويل کېږی يا د اوسېدل په مصد کښې استېدل هم وائی.

برسېره پدی ځينی نور مثالونه هم شته چه د (ت) زياتوالی ښئي لکه د اوچت په کلمه کښې چه په سانسکرت کښې (ت) نشته او (اوچ) ويل کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو او سانسکرت

دا خبره اوس هېڅ غرابت نلری چه پښتو د اریائی ژبو څانګه او پښتانه د اریا د لوی ټبر یوه پخه کورنۍ ده مګر د دې خبرې شواهد او دلایل پیدا کول اوس هم له ابتکاراتو څخه شمېرل کېږي او هر څوك وروسره لږه ډېره دلچسپي لري.

پښتو اریائی ژبه ده او په اریائی ژبو کښې له سانسکرت سره ډېر قرابت لري، ځینې کسان چه په ژبو کښې عمومی مطالعه لري او د ژبو پوهان بلل کېږي هغوی لا پښتو او فارسي، هندی او اوستائي یا دا راز نورې ژبې د سانسکرت څانګې او ښاخونه بولي چه د اریائی جنوبی په نامه یادېږي.

که مونږ د لغاتو مقابله او مقایسه شروع کړو ډېر زیات لغتونه مومو چه په پښتو، سانسکرت او فارسی کښې عیناً یا په لږ تغیر مستعمل دي او د دغو ژبو ډېر قرابت او نزدېوالی ثابتوي مګر کوم قرابت چه پښتو ئې له سانسکرت سره ښکاره کوي فارسی ئې په هغه اندازه نلري او د یوې عمومی مقایسې په اثر کښې ویلی شو چه پښتو او سانسکرت پخپل مینځ کښې ډېر قوی اخوت لري او یوه مشترك اصل ته ئې نسبت کېږي چه سرې په فارسی او سانسکرت کښې دغه راز خپلوی نشي پیدا کولی بلکه په ښاخونو کښې د یوې څانګې نسبت لري.

دا خبره ښائي چه یوه غټه دعوه تلقی شي مګر اثبات ئې ډېر آسانه دی او قوی شواهد پیدا کېږي چه باید دا خبره ومنل شي.

که مونږ ځینې سانسکرت لغتونه فارسی ته ورته دی او ځینی پښتو ته بلکه پدې باب کښې د ژبې قالب او چوکاټ په نظر کښې ونیسو یقین به وکړو چه فارسی هغه مشترك صفات چه سانسکرت او پښتو ئې لری اکثریه له لاسه ورکړیدی او په رښتیا د دې دواړو ښاخونو په مقابل کښې دیوی څانګی مثال او حیثیت لری.

وګورئ! د تذکیر او تانیث فرق چه په پښتو او سانسکرت یا ځینې نورو اریائي ژبو کښې شته د نن ورځې په فارسی کښې نه لیدل کېږي. دغه اعرابی او حرفی تغیر چه په پښتو کښې د ځینې عواملو او مغیره حروفو په سبب پېښېږي او د پښتو په ګرامر کښې زیاته برخه لري په سانسکرت کښې هم شته او په فارسی کښې ئی نه وینو. فعلی صیغې هم په سانسکرت کښې لکه پښتو زیاتې دي چه په فارسی کښې هغومره نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه چه په پښتو کښې ابتدا په ساکن عمومیت لري او په ډېرو کلماتو کښې لمړی توری ساکن وی په سانسکرت کښې هم دغه خاصه موجوده ده او همدغسې عمومیت لري مګر په فارسی کښې په ساکن باندې ابتدا نشي کېدی.

ځینې تورې چه په پښتو کښې شته او فارسی ئې نلری لکه: ډ، ړ، ټ، ڼ - او د پښتو په لغاتو کښې لویه برخه لري په سانسکرت کښې هم شته او په دغو ردیفو کښې ډېر لغات هم لري نو ویلی شو چه د پښتو او سانسکرت لغوي قرابت هم نسبت فارسی ته ډېر قوی او مکمل دی.

ډېر لغات شته چه په پښتو او سانسکرت کښې عیناً بې له څه تغیره مستعمل دي او په ځینو کښې لږ څه حرفي یا حرکتي تغیر هم راغلی دی چه دلته ئې مثالونه له (۲) مادو لاندی ښودل کېږی.

الف: هغه لغتونه چه بې له څه تغیره په دواړو ژبو کښې مستعمل دي.

| | پښتو | سانسکرت | فارسی |
|---|---|---|---|
| (۱) | انګار | انګار | اخګر |
| (۲) | سالو | سالو | چادر سرخ زنانه |
| (۳) | پتنګ | پتنګ | پروانه |
| (۴) | سنګار | سنګار | آرایش |
| (۵) | چندڼ | چندڼ | صندل |
| (۶) | هټی | هټی | دکان |
| (۷) | مل | مل | همراه |
| (۸) | کوټ | کوټ | قلعه |
| (۹) | ګړی | ګړی | ساعت |
| (۱۰) | لونګ | لونګ | میخك |
| (۱۱) | نل | نل | نی |
| (۱۲) | تالو | تالو | کام |
| (۱۳) | ارهنډه | ارهنډه | بید انجیر |
| (۱۴) | جړاو | جړاو | مرصع |
| (۱۵) | سنګر | سنګر | کمین |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | پښتو | سانسکرت | فارسی |
|---|---|---|---|
| (۱۶) | کلال | کلال | کلال |
| (۱۷) | نیل | نیل | نیل |
| (۱۸) | نیك | نیك | نیك |
| (۱۹) | اتوار | اتوار | ادینه، شنبه |
| (۲۰) | شال | شال | شا – چادر زنانه |
| (۲۱) | غوا | غوا | مادگاو |
| (۲۲) | سنډه | سنډه | گاومیش |
| (۲۳) | تیل | تیل | تیل |
| (۲۴) | پټو | پټو | پتو |
| (۲۵) | رسۍ | رسی | رسن، ریسمان |
| (۲۶) | دروه | دروه | خدعه |
| (۲۶) | رس | رس | اذوقه |
| (۲۸) | تول | تول | وزن |
| (۲۹) | ستوان، ستو | ستوان | آرد گندم بریان |
| (۳۰) | سلائی | سلائی | سرمه چوب |
| (۳۱) | کروړ | کروړ | کرور (ده ملیون) |
| (۳۲) | تپاك | تپاك | شوق |
| (۳۳) | چل | چل | چل - فریب |
| (۳۴) | جړۍ | جړی | هفته باران |
| (۳۵) | جنجال | جنجال | جنجال |
| (۳۶) | پت | پت | آب، ابرو |
| (۳۷) | ماما | ماما | ماما |
| (۳۸) | ګرېوان | ګریوان | گریبان |
| (۳۹) | آپت (۱)[1] | آپت | آفت |
| (۴۰) | پلنګ، پالنګ | پلنګ | چارپائی |
| (۴۱) | وار | وار | بار (دفعه) |

[1]- دا کلمه په سانسکرت او پښتو دواړو کښې شته او یوه معنی لری څوک ئی چه له اصالت څخه خبر نه وی هغه به ګمان کوی چه له عربی آفت څخه مقغنه ده – په زړه فارسی کښې هم آگفت همدغه معنی لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: هغه لغتونه چه په پښتو او سانسکرت کښې په لږ تغیر لیدل کیږي:

دغه راز لغتونه مونږ په دوو برخو ویشو چه د لفظی او معنوی تغیر په عنوانونو بېلېږي يعني ځينې لغات دي چه په پښتو او سانسکرت کښې ئې د تلفظ په لحاظ څه فرق پيدا کړی دی مګر معنی ئې يوه ده لکه (ډيوه) چه په سانسکرت کښې (ډيوا) ويل کيږي او معنی ئې همدغه چراغ دی چه په پښتو کښې ئې لری، مګر په لفظ کښې دومره شويدی چه (الف) يې په (ه) تبديل موندلی او دغه راز ابدال د پښتو او سانسکرت په ډېرو مشترکو لغاتو کښې امثال او نظائر لري او د پښتو پخپل مينځکښې هم واقع شويدی يعنی (اديره- هديره- اګی- هګی- ارومرو- هرومرو) په دواړو تورو ويل کيږي.

ځينې نور لغتونه دي چه د تلفظ په لحاظ پدې دواړو ژبو کښې هيڅ تغير نلري مګر د معنی په اعتبار ئې څه تحول قبول کړی وی لکه: (کال) چه په سانسکرت او پښتو دواړو کښې په يوه تلفظ موجود دي خو په معنی کښې ئې د تخصيص او تعميم له حيثه فرق پيدا کړی دی ځکه چه کال په سانسکرت کښې مطلق (وخت) ته وائي او په پښتو کښې د فارسی سال په معنی دی چه يوې محدودې او معينې زمانې ته ويل کيږي او عموميت ئې په تخصيص بدل شويدی.

د پښتو کله هم له کال څخه اخستل شويدی او له (نور کله) يا (هر کله) څخه هم معلومېږی چه کله د مطلق وخت په معنی استعمالېږي او په تکراری صورت کله کله هم دغه معنی لری.

هر کله چه دا دواړه رازه لغتونه وپېژندل شوه اوس ئې نمونې او مثالونه وګورئ!

غر: دا لغت په همدغه معنی په سانسکرت کښې (ګر) ويل کيږی چه په فارسی ئې (کوه) بولي- دا دوه توری (غ – ګ) په پښتو لغاتو کښی هم يو په بل بدليږی لکه: کارغه، کارګه- پرتوګانړ، پرتوغانړ او په سانسکرت کښې نور هم ډېر لغتونه پيدا کيږي چه له پښتو څخه ئې د همدغه تورو د ابدال په سبب لږ لفظي تغير پيدا کړی او معنی ئې هماغه ده چه په پښتو کښې ئې لري، لکه چه له روستيو مثالو څخه پخپله معلومېږی.

جغ: په سانسکرت کښې (جګ) ويل کيږي او همدغه معنی لری په فارسی ئې (يوغ) بولي.

ګرونج: چه په پښتو کښې د ګړيو اينسودلو ځای ته وائي او په فارسی ئې (ګروچی) بولي په سانسکرت کښې ورته (غرونجا) وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**غوندی**: دا لغت هم په سانسکرت کښې (ګون) وایه شی او همدغه معنی لري چه په پښتو کښې ئې غوندی لری او په فارسی ورته (ګونی) وائی چه د غلو او دانو اچولو مخصوص ظرف دی.

د دی کلمی روستی توری (د – ی) هم له هماغه لوېدونکو تورو څخه دی چه زیاتوالی او کموالی ئې په ځینو لغاتو کښې ګورو مګر د معنی په تغیر کښې ئې څه تاثیر نه وی کړی.

**ګونګړی**: په سانسکرت کښې (غونګنی) همدغه معنی لری چه وېشېدلی حبوبات ورځنې مراد دی.

**ګڼ**(۲)[2]: د انبوه په معنی دی چه په سانسکرت کښې (غن) ویل کېږی.

**کنډ**: په سانسکرت کښې (خنډ) او په فارسی کښې ورته (ګند) وائی چه (خ، ك) پکښې یو له بله بدل شویدی، او نور مثالونه هم لری.

**کټ**: دا لغت هم په سانسکرټ کښې (خټ) لوستل کېږي چه په فارسی کښې ورته چارپائی وائي.

**ماکو**: چه په فارسی کښې هم مستعمل دی او د جولایانو مخصوصه آله ده په سانسکرت کښې ورته (ماخو) وائي او همدغه معنی لری.

**لوخړه**: په پښتو کښې زیات او غلیظ دود ته ویل کېږی چه په سانسکرت کښې (لوخ) ورته وائی او ویلی شو چه (لوګی) هم له (لوخ) سره اشتقاقی مناسبت لري.

**سنګتیا**: په سانسکرت کښې (سنخیا) همدغه معنی لری چه په پښتو کښې ئی سنګتیا لری او دواړه د یوی ریښی څخه ماخوذ معلومېږی(۳)[3].

**شونډه**: د سانسکرت (هونټ) همدغه معنی لری چه په پښتو کښې ئې شونډه لری او په فارسی ورته لب وائي.

**ګاونډی**: دا لغت په سانسکرت کښې (ګاونټی) ویل کېږي چه په فارسی ئی همسایه بولي(۴)[4].

**واټ**: د جادې او لارې په معنی دی چه په سانسکرت کښې ورته (باټ) وائي.

---

[2]- له دغو پنځو مثالو څخه معلومېږی چه (غ، ګ) په پښتو او سانسکرت کښې ډېر ځایونه بدل شویدی.

[3]- د سانسکرت او پښتو له دی څو لغتونو لکه: کټ، خټ- کنډ، خنډ- ماکو، ماخو- سنګتیا، سنخیا- لوګی، لوخ- څخه معلومېږی چه (ک، خ، ګ) په دی دواړو ژبو کښې د ابدال ډېر مثالونه لری.

[4]- شونډه او هونټ- ګاونډی او ګاونټی د (ت–د) ابدال په پښتو او سانسکرت کښې ښئی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

والیـ: چه ځینې پښتانه ئې له غوړ سره یو ځای هم استعمالوی او غوړ والیـ ورته وائي په سانسکرټ کښې ئی (بالیـ) بولي(۵)[5].

بڼ :په پښتو کښې ځنګله ته وايي چه په سانسکرت کښې (بن) همدغه معنی او لږ لفظي تغیرلري- په زړه فارسي کښې بن باغ ته وايي او بنوان باغوان ته ویل کیږي.

لس: دا کلمه چه یو مخصوص عدد ته وائی په سانسکرت کښې ورته (دش – دس) ویل کیږی- لس او دش که څه هم په ظاهر کښې لری ښکاره کیږي ځکه چه یو توری ئې هم سره شریك نه دی مګر څوك چه د حروفو تغیر او تبدیل سره اشنا وي هغه به یقین وکړی چه دا دوه لغتونه په اصل کښې یو لغت دی او څه ډېر لرېوالی نلری ځکه چه (ش – س) هر وخت یو په بل بدلیږي او ډېر مثالونه لري چه د لغوی څېړنې د بدلېدونکو تورو له عنوان لاندې وښودل شوه.

همدارنګه (د – ل) هم په ځینې پښتو او فارسی لغاتو کښې داسې معلومیږی لکه چه یو په بل بدل شوی وی لکه (لیدل، دیدن- لاس، دست- پلاړ، پدر) او داسی نور ...

په پښتو او سانسکرت کښې هم دغه دوه توری سره بدلیږی لکه چه له دې وروستی مثال څخه هم معلومیږی.

لېور: په پښتو کښې د مېړه ورور ته ویل کیږي چه په سانسکرت کښې (دیور) ورته وائي چه له پښتو سره یې د (د – ل) له ابدال څخه نور څه فرق نلري.

جنیـ: په پښتو کښې هماغه معنی لری چه په فارسی کښې ئې (دختر) لري مګر په سانسکرت کښې ئې لږ معنوی تحول کړی او بی له کوم حرفی تغیره ښځې ته جنی وائي یعنی دی لغت په پښتو او سانسکرت کښې یوازې معنوی تحول کړی او توری ئی په یوه حال پاته دی.

ناوی: دا لغت چه د عروس په معنی دی او په یوه مخصوص وخت او حال کښې ښځې ته وایه شی په سانسکرت کښې دیوه توری په تبدیل یعنی (ناری) مطلق ښځې ته وائی او تعمیم لری.

شپه: په سانسکرت کښې (شپا) ویل کیږي چه په فارسی ورته شب وائي- دغسې مثالونه چه په پښتو کښې دیوه لغت اخر توری (ه) وی او په سانسکرت کښې په الف ویل

[5]-والیـ او بالیـ-واټ او باټ د (و – ب) ابدال په پښتو او سانسکرت کښې ښکاره کوی- دا دواړه توری د پښتو پخپل کور کښې هم یو له بله بدلیږی لکه: ویاله، بیاله- وېره، ببره یا داسی نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږی. یعنی روستی توری الف وی زښت ډېر دي چه ځینې نمونې ئې په روستیو مثالو کښې ښودل کېږی.

**پاره**: چه په پښتو کښې د سیماب په معنی دی په سانسکرت کښې (پارا) ویل کېږی.

**ډیوه**: چه د چراغ معنی لری په سانسکرت کښې ئې (ډیوا) بولي.

**پنجره**: چه په فارسی کښې ورته قفس وائي په سانسکرت کښې (پنجرا) لوستل کېږی.

**پوره**: د مکمل او تام په معنی دی په سانسکرت کښې (پورا) وایه شي.

**مېله**: دا لغت چه په پښتو او فارسی دواړو کښې یو راز مستعمل دی په سانسکرت کښې په همدغه معنی (میلا) ویل کېږي.

**تامبه**: په پښتو کښې سوته وائي چه په سانسکرت کښې ورته (تامبا) وائي.

**تاڼه**: چه په پښتو کښې عام او معروف لغت دی په سانسکرت کښې (تهانه) ویل کېږی او همدغه معنی لري.

دغه راز مثالونه چه یو لغت په سانسکرت کښې په (ه) ویل کېږي او په پښتو کښې (ه) له تلفظ څخه لوېدلی وي ډېر دي چه نمونې ئې په روستیو مثالو کښې ښیو.

**سمبالول**: د انتظام معنی لري چه سامانول هم ورته وائي، په سانسکرت کښې په لږ لفظي تغیر (سمبهالنا) همدغه معنی لری یعني وروسته تر (ب) یو بل توری لری چه هغه (ه) ده مګر پوره تلفظ پرې نه کېږي.

**لکه** چه په پښتو کښې د مصدر روستی توری (ل) وي په سانسکرت کښې (نا) د مصدر علامه ده لکه (پالل) چه (پالنا) ویل کېږي.

**سد**: اصلی معنی ئې عقل او هوش دی که څه هم ځینی پښتانه ئې په بله معنی استعمالوی لکه چه وائي: بی سده غوښې وې- او غرض ئې ډېروالی یا ښه والي وی- په سانسکرت کښې هم په همدغه اصلی معنی(سدهه) مستعمل دی چه په اخر توری یعنی (ه) پوره تلفظ نه کېږي.

**موټ**: چه د حبوباتو یو قسم دی او ځینو حیواناتو ته ورکول کېږی په سانسکرت کښې (موټهه) په خفیفه (ه) ویل کېږي.

**مېښه**: په سانسکرت کښې (مهیښ) لوستل کیږي.

**پاله**: چه په پښتو کښې ورته (کرکی) هم وائي چه له کرلو څخه ماخوذ معلومېږی په سانسکرت کښ (پهال) ورته وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پلي**: چه په پښتو او فارسی دواړو کښې په يوه معنی مستعمل دی په سانسکرت کښې (پهلی) همدغه معنی لري.

**پېړی**: دا لغت د پښتو پخوانی لغت دی چه د څوکۍ په شان يوه واړه کټکی ته ويل کېږي لکه چه رحمان بابا وائي:

د پالنګ او د پېړی حاجت څه نشته
د يارانو نشستن د زړه په تخت دی

په سانسکرت کښې هم (پېړهی) همدغه شی دی، او ډېر لږ لفظي تغير لري يعني يوه خفيفه (هـ) پکښې زياته ده.

**مياست**: چه ځينی پښتانه ئی (مياشت) بولی په سانسکرت کښې (ماس) ورته وائی- روستی توری يعنی (ت) خو مونږ دمخه ووېل چه وروسته تر (س) او ځينی نورو تورو زياتېږی او اساسی حرف ورته نه ويل کېږی (ی) هم يو غير اساسي حرف دی چه د کلماتو په بېلولو او پردی کولو کښې ئې کموالی او زياتوالی څه تأثير نلری.

**نمر**: په پښتو کښې (لمر، نمر، مر) همدغه يوه شی ته وائي چه په فارسی او سانسکرت کښې ورته (مهر) وائی او د پښتو (مر) ورته ډېر نږدی معلومېږی بلکه يو شی بلل کېږی ځکه چه دغه (ه) په سانسکرت کښې ډېر خفيف تلفظ لری لکه چه مخ کښې مو هم ووېل او ډېر مثالونه مو راوړل چه د پښتو او سانسکرت ډېر مشترك لغتونه د دغسی (هـ) په کموالی او زياتوالی لږ څه فرق پيدا کوي.

**اوچت**: په سانسکرت کښې ئې اوچت لری- د پښتو (چت) چه د سقف معنی لری هم له اوچت څخه اخستل شويدی.

**ځنګل**: چه په فارسی ئې جنګل بولی په سانسکرت کښې هم ورته (جنګل) وائي- دغه راز نور کلمات هم شته چه په پښتو کښې په (ځ) او په سانسکرت کښې په (ج) ويل کېږي چه ځيني نموني ئې دلته ښيو:

**ځمکه**: چه مځکه هم ورته وائي په سانسکرت کښې ئی (جماه) بولی او د (ځ- ج) ابدال په دې دواړو ژبو کښې ښئي.

**ورځ**: دا لغت په پښتو کښې يو بل صورت هم يعنی (روځ) هم لوستل کېږی او ځينی پښتانه ئې (وريځ) هم بولی چه په دوو لهجو کښې (و) د مخه دی او په يوه لهجه کښې (ر) د مخه ده، په سانسکرت کښې (روج) په همدغه معنی دی چه لکه (ځمکه) د (ځ، ج) ابدال ښئي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژبه**: په دې لغت کښې درې لهجې موجودې دي چه څوك ئې (ژبه) او څوك ئې (زبه) او ځينې (جبه) وائي- په سانسکرت کښې هم دا لغت په دوو لهجو ليدل کېږی يعنی (جبها) او (جوها) دواړه تلفظونه پکښې شته لکه چه په فارسی کښې (زبان) او (زبون) دوه تلفظ پکښې موجود دی نو د پښتو دا يوه لهجه (جبه) له سانسکرت سره زيات قرابت او نزديوالی لري.

**سل**: چه يو معين عدد دی او په فارسی ئې (صد) بولي په سانسکرت کښې ورته (ست) وائي چه د (ت- ل) په ابدال ئې يو له بله فرق پيدا کړيدی لکه چه د پښتو (ست) او د فارسی (سلا) هم همدغه راز فرق لري او ويلی شو چه په پښتو کښې (پلار) او په سانسکرت کښې (پتری) هم د دغه ابدال مثال دی.

**اوسپنه**: په سانسکرت کښې ورته (ايس) وائي او معلومېږی چه د دواړو لغتونو اصل يو دی.

**نوم**: لکه چه په فارسی ئې (نام) بولي په سانسکرت کښې هم (نام) ورته وائي چه له پښتو نه څه ډېر لرېوالی نلري.

**نوی**: په فارسی او سانسکرت دواړو کښې ورته (نو) وائي او ويلی شو چه د پښتو (ناوی) به هم له نوی څخه ماخوذوي ځکه چه هغه هم نوی کاله ته راځی او هر څه ئې نوی وي.

**نژدی**: چه نژدی هم وائی او په فارسی ئې (نزديك) بولی په سانسکرت کښې (نيد) ويل کيږي.

**درې**: په سانسکرت کښې (ترې) ويل کيږي او بې له دې نه چه (د- ت) پکښې يو له بله بدل شويدی نور څه فرق نلري- دغه راز ابدال د پښتو پخپل کور کښې هم شته لکه زبات او زباد- د فارسی (مادر) او د سانسکرت (ماتری) هم د همدغه ابدال مثال دی.

**اوبه**: په سانسکرت کښې ورته (اپ) وائي.

**بربت**: چه په فارسی ئې (بروت) بولي په سانسکرت کښې ورته (بهرودت) وائي چه يو له بله ماخوذ معلومېږي.

**کوتره**: د فارسی (کبوتر) د پښتو کوتره او د سانسکرت (کبوت) دری واړه داسې لغتونه دي چه اصل ئې يو معلومېږی.

**نوك**: دا کلمه هم په سانسکرت کښې (نکهه) ويل کيږي چه په اخر توری باندې پوره تلفظ نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مستې**: په فارسی ئې (ماست) بولي او په سانسکرت کښې ورته (مستو) وائي چه هېڅوك ئې له نزدېوالی سترګی نشی پټولی.

**شولې**: په سانسکرت او فارسی کښې ئې (شالی) بولي.

**پنه**: چه په فارسی ئی (پایزار) بولی د سانسکرت له (پنهی) سره ډېر نزدې ښکاري.

**تبه**: په سانسکرت کښې ورته (تپ) وائي چه په پښتو کښې د حرارت په معنی دی او ویلی شو چه (تبه) او (تپ) به یو له بله جوړ شوی وي.

**تپوس**: څوك چه د دې لغت له اصل څخه خبر نه وي ښائي چه هغه دا ګمان وکړي چه له عربی (تفحص) څخه جوړ شوی او مغنن شویدی مګر حقیقت داسې نه دی ځکه چه دا لغت په اریائی ژبو کښې مشترك اصل لری چه په سانسکرت کښې (تپاس) په فارسی کښې (پرس- پرسان) او په پښتو کښې تپوس ویل کېږي مګر هغه قرابت چه تپوس او تپاس یو له بله لری فارسی ئې ورسره په هغه اندازه نلري.

**برو**: یا برهو چه ګرم او تاوده باد ته وائی په سانسکرت کښې ورته (پروا) وائي چه د فارسی (پروان) او د پښتو (پرمان) هم له همدغې ریښې ماخوذ معلومېږي.

**دوړی**:چه ګرد او خاکباد ته ویل کېږي په سانسکرت کښی (دهور) ورته وائی.

**چتری**: په سانسکرت کښې ئی (چهتری) بولی او یوه خفیفه (ه) پکښې زیاته ده.

**څر**: چه ځینی پښتانه ئې (څړ) وائي په سانسکرت کښې (چر) ویل کېږی.

**چرګ**: په پښتو کښې هغه حیوان ته وائي چه په وچولی کښې سپینوالی لری او ځینی پښتانه ئی (چرګی) هم بولی چه په سانسکرت کښې ورته (چرکا) وائي.

**ځوم**: لکه ځمکه چه په سانسکرت کښې (جماه) بولی ځوم ته هم په سانسکرت کښې (جمای) وائي.

**پالل**: دا مصدر په فارسی په پرورش نمودن باندی ترجمه کېدی شی چه په سانسکرت کښې (پالنا) همدغه معنی لری- هر کله چه په دې لغت کښې د پرورش او تربیت معنی پرته ده نو سړی ویلی شی چه د (پلار) کلمه به هم له همدغی کلمې څخه جوړ شوی وی.

**ډله**: د جمعیت په معنی ده او په سانسکرت کښې په ډېر لږ لفظی تغیر (ډل) ویل کېږی او همدغه معنی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مور**: دا لغت هم په ډېرو اريائی ژبو کښې په لږ لفظي تغير ليدل کېږي اوويلی شو چه د سانسکرت (ماتری) د انګليسی (مدر) د فارسی (مادر) او د پښتو (مور) له يوه اصل څخه جوړ شويدي.

**پلار**: په سانسکرت کښې ئې (پتری) او په فارسی ئی (پدر) بولي.

**سا**: په سانسکرت کښې (سانس) د همدغه معنی لری.

**سکه**: د عياني په معنی دی يعنی هغه ورور يا هغی خور ته ويل کېږي چه له مور او پلاره وی او په دواړو اصلونو کښې شريك وی- په سانسکرت کښې (سګا) هم همدغه معنی لري او خپله اشتقاقی علاقه ورسره ښئي.

**پاڼه**: چه په فارسی (برګ) بولی په سانسکرت کښې ورته (پنا) وائي.

**هنجه**: په سانسکرت او فارسی دواړو کښې ئی (هنګ) بولي.

**مږ**: چه ځينی پښتانه ئی مګ لولی او مؤنث ئی مېږه او مېګه راځی په سانسکرت کښې ورته (ميخ) وائي چه لکه سنګتيا او سنخيا د (ګ – خ) ابدال ښئي.

**منل**: په سانسکرت کښې (مانا) د منلو په معنی دی او لکه چه د پښتو مصدرونه په (ل) تمامېږي د سانسکرت مصادر په (نا) باندی اتمام مومی لکه (سمبهالنا) او (پالنا) چه د سمبهالولو او پاللو په شان مصدرونه دی او په هماغه معنی دی.

**مندری**: دا لغت که څه هم اوس دومره ډېر نه اروېدل کېږی او زيات پښتانه (والیـ) يا غوږ والیـ ورته وائي مګر د پښتو صحيح لغت دی چه له محاورې نه لاتر اوسه نه دی لوېدلی او اوس هم ځينی پښتانه وائي چه په غوږ کښې ئې مندریـ اچوم او د ځينو ښځو نوم مندریـ وي ځکه چه په پښتو کښې د اکثرو ښځو نومونه لکه: اوریـ، غوټیـ، يا داسي نور ... د زيوراتو او ګاڼو له اقسامو څخه وی او مندریـ هم په همدغه لحاظ د ښځو نوم اېښودل کېږی په سانسکرت کښې (موړندی) هم همدغه معنی لری او دواړه د يوی ريشي څخه ماخوذ ايسی.

**نته**: يا نتکیـ چه په پزه کښې ځوړندېږی او پښتانه ئی زښت ډېر خوښوی او مينه ئې پرې راځی لکه چه له دی لنډیـ نه معلومېږی:

ستا په نتکیـ کښې شيطان ناست دی هره شيبه مې ستا خولګیـ ته لمسوينه

په سانسکرت کښې ئی هم (نتهـ) بولي چه په تلفظ کښې ئې ډېر لږ فرق محسوسېږی.

**ندرور**: چه په فارسی ئې (ننو) بولي په سانسکرت کښې ورته (نند) وائی او دری واړه لغتونه د يوی کورنیـ معلومېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېمبو**: په سانسکرت کښې ئې (نېبو) بولی چه له لېمبو او لېمو سره ډېر نزدېوالی لري.

**کوډی**: د سحر او جادو په معنی په پښتو کښې مشهور لغت دی او هغه څوك چه دا کار کوی (کوډګر) ورته وائي- په سانسکرت کښې (کدهه) د کوډو په معنی دی او په ريشه کښې ورسره ډېر نزدی اېسي.

**کوهی**: دا لغت په سانسکرت کښې (کوا) ويل کېږی او د (چاه) په معنی دی.

**ګازره**: چه ځينی پښتانه ئی (زردکه) بولی په سانسکرت کښې (ګاجر) ويل کېږي.

**مخ**: په لږ لفظی تغير سره په سانسکرت کښې مخ ته (موخ) وائي چه يو له بله ماخوذ معلومېږي.

له دی پورتنيو مثالونو څخه به د پښتو او سانسکرت لغوی قرابت تر يوه حده ښکاره شوی وی- که مونږ د پښتو ژبې خپلوی له ځينې نورو آريائی ژبو سره مقايسه کړو ښائي چه ځينې لغتونه به پيدا کړو چه د پښتو او يوی بلی اريائی ژبی قرابت وښئي مګر په دغه اندازه نه ځکه چه ژبې هم لکه ملل او اقوام پخپل مينځکښې متفاوت قرابت لری او د همدغه قرابت په اندازه په لغاتو او عمومی صفاتو کښې هم خپل نزدېوالی او شباهت ښئي. په هغه اندازه چه اريائی ژبی پخپل کور کښې يو له بله خپلوی لری له سامی ژبو سره ئې نه لري مګر څه نه څه نزدېوالی پکښې لېدل کېږي او داسی نه کېږي چه يو له بله په هېڅ شی کښې شباهت ونلری.

کوم قرابت چه اريائی ژبې يو له بله لري هغه هم متفاوت دی. هغه کسان چه په ژبو کښې عمومی مطالعه لري او د ژبو پوهان ورته ويل کېږی هغوی په اريائی ژبو کښې پښتو، سانسکرت، فارسی، اوستا، او ځينی نورې ژبې يو له بله ډېرې نژدی ګڼی او ډېره خپلوی ئی ښئي.

## پښتو او فارسی:

په پښتو او سانسکرت خو څه نه څه خبرې وشوې اوس به د پښتو او فارسی لغوی نزدېوالی او قرابت لږ څه څرګند کړو ځکه چه دا دواړه ژبی هم لکه نورې اريائی ژبې پخپله مينځکښې قرابت لری چه ځينی لغات په دواړو ژبو کښې عيناً بی له تغير او تبديله مستعمل دی او ځينی په لږ لفظی يا معنوی تغير مشترك معلومېږی چه دلته ئې ځينې نمونې او مثالونه ښيو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور: لکه چه په پښتو کښې یوه مخصوص رنګ ته وائي او د پښتو په محاوره او قاموس کښې اصلي ځای لري، په فارسی قاموس (برهان قاطع) کښې هم په همدغه معنی قید دی. د همدی لامله (سور ګل) ګل سوری بولي او (لاله سوری، شراب سوری) په همدغه لحاظ ویل کیږی.

تلوسه: دا لغت د اضطراب او ناقراری او زیات انتظار په معنی د پښتو په محاوره کښې مستعمل دی او په فارسی قاموس کښې هم په همدغه معنی قید دی که څه هم د نن ورځې په فارسی تحریر او ادبیاتو کښې ئی نه مومو.

جغندر: د لبلبو په معنی په پښتو او فارسی دواړو کښې شته او هیڅ فرق نلری- هر کله چه په پښتو او فارسی کښې ډیر لغتونه لکه: ګل، آسمان، باد، هوا او داسی نور په یوه معنی مستعمل دي چه ځینی د دې دواړو ژبو د اختلاط او ګډون په سبب او ځینی د اصل او اساس د قرابت او نزدیوالی له کبله په دواړو ژبو کښې په مشترك ډول ویل کیږی نو دغه برخه به پریږدو او هغه مثالونه به وښیو چه په دواړو ژبو کښې په څه لفظی تغیر مستعمل دي او داسې معلومیږي چه دواړو صورتو له یوه اصل څخه تحول کړیدی لکه دا لاندینی مثالونه:

سپین: دا لغت په فارسی کښې (سپید) لوستل کیږی چه له سپین څخه ماخوذ معلومیږی.

رسی: له رسن سره چه په فارسی کښې ریسمان هم ورته وائی لغوی قرابت لری.

تبر: په فارسی کښې (تبار) هم په همدغه معنی دی او د دواړو لغتونو اصل یو ښکاری.

باتنګڼ: چه په پښتو کښې بانجانو ته وائی په فارسی کښې (باتنکان) هم همدغه معنی لری لکه چه په برهان قاطع کښې قید دی.

سکاره: چه د نن ورځې په فارسی کښې ورته (ذغال) وائی په فارسی قاموس کښې (سکار) په همدغه معنی قید دی.

کټ مټ: په فارسی کښې (کت مت) همدغه معنی لری لکه چه په پښتو کښې ئی کټ مټ لری.

مرغه: د فارسی (مرغ) سره په معنی کښې یو والی او په لفظ کښې نزدیوالی لری.

غوړ: په برهان قاطع کښې (غول) د غوړ په معنی لیکل شویدی او د (اسبغول) په تحلیل کښې هم ویل شویدی چه د دغه بوټی پانی هم لکه د آس غوړونه داسی وی نو ځکه ورته اسبغول وائی یعنی دا لغت ترکیبی لغت دی چه یو جزئی اسپ او بل جز ئی (غول) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غويې: يا غوا چه د نن ورځې په فارسی کښې ورته (گاو) او (مادگاو) وائي په ځينو فارسی قاموسونو کښې (غاو) هم په همدغه معنی ليکل شوی نو ويلی شو چه (گاو) هم له (غاو) څخه جوړ شويدی چه هغه له (غوا) يا غويی څخه ماخوذ معلومېږی (غ- گ) هم په ډېرو لغتونو کښې يو په بل بدلېږی لکه چه د سانسکرت او پښتو لغاتو په بحث کښې ئی ډېر مثالونه وښودل شوه.

غړ: چه ځينی پښتانه ئی (غگ) بولي په فارسی کښې هم يو لغت شته چه غګ ته ډېر نژدی معلومېږی ځکه چه (غاك) په فارسی کښې يوه خاص اواز ته وائی لکه چه برهان قاطع ليکي: غاك بر وزن خاك اواز و بانگ کلاغ را گويند.

ګبين: په فارسی کښې انگبين همدغه معنی لری او د دواړو لغتونو اصل يو معلومېږی.

انګېرل: د پښتو مستعمل مصدر دی چه د پنداشتن معنی لری او ډېری صيغی ورځنی جوړېږی –په فارسی کښې- (انگاريدن) همدغه معنی لری او همدغه راز مصدر دی.

بور: په پښتو کښې يو قسم رنګ دی چه سور والی ته مايل وی مګر په فارسی کښې بور هغه اس ته وائي چه رنګ ئې سور والی ته مايل وي.

بوزه: په فارسی کښې هغه شرابو ته وائي چه له اوړو، وريجو او اربشو جوړ شوی وی او د مېوی معنی هم لری لکه چه د ژبی د پوهانو څخه يو تن وائي چه (خربوزه) له دوو جزو څخه مرکب لغت دی چه (خر) د لوی په معنی دی او (بوزه) مېوی ته وائی نو د خربوزی معنی لويه او غټه مېوه ده- په سانسکرت کښې هم دا لغت همدغه معنی لري.

په پښتو کښې د ځينی عياشو خلقو په باب کښې ويل کېږی چه خپل مال ئی بنګ و بوزه کړ چه بوزه پدی ځای کښې د مېوی او شرابو دواړو معنی ورکوی- د پښتو په ځينی پخوانيو کتابو کښې دا لغت د شرابو په معنی هم مستعمل دی لکه چه په تاريخ مرصع کښې يو ځای د يوه بد سړی د قتل په واقعه کښې ليکي چه پس له مرګه ئې بوزه له خولې او پزې راووتل او قصد ئې شراب دی.

لوخ: چه په فارسی کښې ورته (لچ) وائي دواړه له يوه اصل څخه ماخوذ معلومېږی ځکه چه (خ، چ) ډېر ځله يو په بل باندی بدلېږی. په فارسی کښې (لوت) هم د لوخ معنی لری او (ت، خ) هم يو له بله بدلېږی لکه: (خښتن، تښتن، تښتېدل، خښتېدل.

سور: په مجهول و او چه ځينی پښتانه ئی سپور هم بولی د فارسی له (سوار) سره پوره لغوی قرابت لری- په فارسی کښې (اسوار) هم د سوار په معنی دی او په ځينی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاموسو کښې قید شویدی. احتمال لری چه دا لغت له (اس) او (وار) څخه مرکب وی او په اصل کښې (اس وال) وی چه وروسته (اسوار) او بیا سوار شوی دی.

لوغل: په پښتو کښې د لوشلو معنی لري او په لغاتو کښې هم لیکل شویدی چه په فارسی کښې (لوغیدن) هم په همدغه معنی راځی او له لوغل سره ډېر نزدېوالی ښئي.

درغل: دا لغت په پښتو کښې د چل او حیلی په معنی دی او درغلی چالباز او حیله ګر سړی ته ویل کېږی چه په فارسی کښې (دغل) عیناً همدغه معنی لری او درغل ته ډېر نزدی ښکاري.

اندېر: په فارسی کښې (اند) او (اندك) لږ شي ته وائي او په پښتو کښې اندېر د ورك او نایاب په معنی راځي.

دغه راز ډېر لغتونه په پښتو او فارسی کښې مومو چه په ډېر لږ لفظی تغیر په دواړو ژبو کښې ویل کېږي او په معنی کښې یو له بله هیڅ فرق نلری لکه: آب، اوبه- خور، خواهر- راغ، راغه- ستر، سترګ- تریخ، تلخ- لبور، ایور- ځنګل، جنګل- او داسی نور ... چه مونږ ئې د زیاتوالی او ډېروالی له کبله ټول مثالونه نه راوړو او په همدغو څو نمونو باندی اکتفا کوو.

که مونږ د فارسی لغات سره له ټولو رنګونو او متعددو لهجو له نظر لاندې ونیسو ډېر داسې لغات پیدا کولی شو چه له پښتو سره په ریشه کښې شریك یا له پښتو نه ماخوذ دي لکه (ګاو) چه په فارسی کښې په یوه بل صورت یعنی (غاو) هم شته چه له غوا او غویی سره ښکاره قرابت لری بلکه له پښتو نه اخستل شویدی ځکه چه دغه ماده په پښتو کښې متعدد صورتونه لری او خپل اصالت ثابتوی.

یا لکه (ګوش) چه په فارسی کښې (غول) هم ویل کېږی چه له (غوږ) ځنې جوړ شوی دی او ویلی شو چه ګوش هم له (غول) او غوږ څخه ماخوذ دی ځکه چه (غ، ګ) زښت ډېر سره بدلېږی او د یوه توری مثال لری.

دلته باید دا هم ووایو چه په فارسی کښې هم ځینی لغتونه لکه د پښتو بعضی لغات متعدد صورتونه او زیات رنګونه لری یعنی لکه چه په پښتو کښې (لمر، نمر، مر) څو رازه ویل کېږي د فارسی هم اکثر لغات په مختلفو لهجو سره لوستل کېږی چه د فارسی قاموسونه دا حقیقت په ښه شان ثابتوی او په یوه لغت کښې څو صورتونه لکه (نیلوفر، لیلوفر، لیلوبر، لیلوپل) راته ښئي او لکه د پښتو (ویاله- بیاله) په فارسی کښې هم (تراویدن- ترابیدن) د ترشح په معنی ښکاره کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فارسی کښې هم د تورو د ابدال په اثر کښې يو لغت لکه: کاچار او کاچال د اثاث البيت په معنی دوه صورتونه لری مګر د نن ورځې په ليك او تحرير کښې له څو مختلفو صورتو څخه يو صورت انتخاب شوی او يوازی (نيلوفر) ويل کېږی ځکه چه دا د ژبو عادت دی چه وروسته تر نضج او پوخوالي په ليك او تحرير کښې يوه معياری لهجه پيدا کوی او له هغه ابتدائی تشتت او اختلاف څخه را اوزی. مونږ ډېر فارسی لغتونه په قاموسونو کښې په مختلفو شکلونو ګورو چه نن ورځې په تحرير کښې ئې نه وينو يعنی تول (ماه) ليکی او هيڅوك (ماح) نه ليکی- همدارنګه د (ګستاخ) په ځای (استاخ) او د (افراشتن) په ځای (افراختن) څوك نه وائې- په هر ځای او د هر چا په ليك کښې (انبوه) او (اندوه) په همدغه يوه ډول ليدل کېږی او هېڅوك (انبه) يا (انده) نه ليکی او نه د (زغال) په غوض (ژکال) ليکل کېږی که څه هم قاموسونه ورځنی دك دي او ډېر مثالونه لری ځکه چه د فارسی ليك هغه ابتدائی مرحله طی کړېده او ليکوال ټول په يوه لاره روان شويدي هسې نه چه څوك (غراش) او څوك (خراش) وليکي يا ځينی (دغل) او حينی نور (دګل) غوره کړی او په ليکلو کښې متعددی لارې جوړې کاندې.

که سړی د فارسی ليك او تحرير ته ځير شی دغه راز اختلافات به ډېر پيدا کړی او بی له ځينو مثالونو لکه: نوشت، نبشت، بخشود، بخشيد- افتاد، افتيد- اکنون، کنون- رساند، رسانيد- نور اختلافات نه ليدل کېږی مګر داسی هم نشو ويلی چه د لهجی اختلاف پکښی بيخی نشته.

لکه چه په پښتو کښې بدلېدونکو تورو يا لوېدونکو او ځای بدلوونکو تورو يوه لغت ته څو صورته او څو رنګه ورکړيدی، په فارسی لغاتو کښې هم دغه کار شويدی چه د نن ورځې په تحرير کښې لږ او په قاموسونو کښې زيات تر نظر تېرېږی لکه: لوبيا، لوويا- کتاره، کتاله- افراختن، افراشتن- بان، بام- غليواژ، غليواج- انجغ، انجوغ- بوزه، يوزه- اسوار، سوار- کالب، قالب- افروز، فروز- تګاب، تګاو- ګرختن، ګريختن- اياس، اياز- غراشيده، خراشيده- يا داسی نور ...

که مونږ د فارسی ګرامر ته ښه ځير شو او د هر مصدر تصريفات په نظر کښې ونيسو دا به راته ښرګنده شي چه د پښتو د ځينی مصادرو فعل حال چه له ماضی څخه مخالف وی په فارسی کښې هم امثال او نظاير لري نو دا چه ځينی ګرامر ليکونکي دغه راز افعالوته په پښتو کښې په دوه مصدرونه قايليږی چه يوه ته مستعمل او بل ته غير مستعمل وائي يعنی د دی لامله چه د (تلل) فعل حال (ځی) راځی نو ځل يو غير مستعمل مصدر ګڼی په فارسی کښې هم دغه مشکل پيښ دی او شته مګر تر اوسه ورته څوك يا متوجه شوي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي يا چا اهميت نه دی ورکړی او په پښتو کښې خوشې په خوشې دا خبره دومره غټه شوېده چه د ګرامر د تشتت اوبی نظمۍ لوی د لیل ګڼل کېږي.

لکه چه په پښتو کښې د (الوتل) له مصدر څخه فعل حال (الوزی) جوړېږی یا له (وتل) څخه (اوزی) او له (پرېوتل) څخه (پرېوزی) جوړېږی په فارسی کښې هم له (ساختن) څخه (میسازد) او له (باختن) څخه (میبازد) جوړېږی او نور مثالونه هم لری لکه: دوختن، میدوزد- تاختن، میتازد- ګریختن، میګریزد- افروختن، میافروزد- یا داسی نور ...

پدی ټولو مثالونو کښې فعل حال له ماضی څخه مخالف دی او سړی ویلی شی چه دغه د (ت، ز) ابدال لکه چه په پښتو کښې لیدل کېږی په فارسی کښې هم شته چه باید هلته هم سړی په دو مصدرونو قایل شی یعنی له (تاختن) سره (تازیدن) او له (باختن) سره (بازیدن) دوه پالتو مصدورنه هم قبول کړو. هر کله چه زما د بحث اصلی موضوع فارسی نشی کېدای او پدی ځای کښې یو ضمنی اهمیت لری نو په دېرو خصوصیاتو کښې ئی بحث نشم کولی او نه ئی په جزیاتو کښې داخلېدلی شم.

د همدی لامله بېرته پښتو ته را ګرزم او غواړم چه ترکیب او اشتقاق باندی لږ رڼا واچوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترکیب او اشتقاق

هغه کسان چه د ژبو په شاوخوا کښې علمی او عمومی مطالعات لری او د ژبو پوهان بلل کېږی هغوی وائي چه د انسان لمړی کلمات اسماء او نومونه و چه وروسته ورځنې افعال او بیا حروف او روابط پیدا شویدی نو ویلی شو چه انسان پخپل لمړی تلفظ کښې نومونه او بسیط کلمات استعمالول او په دغو کلماتو کښې به هم شفوی حروف زیات و.

د دې خبرې تصدیق اوس هم واړه اطفال او کوچنیان په ښه شان کوي ځکه چه هغوی هم لمړی ځل په شفوی حروفو او ډېرو بسیطو کلماتوتلفظ کوی او وروسته بیا په غټو الفاظو او ثقیلو حروفو شروع کوی. نو په دغه اعتبار سړی ویلی شی چه په هره ژبه کښې لمړی ځل واړه الفاظ پیدا شویدي او وروسته بیا له هغو الفاظو څخه نور لفظونه د ترکیب او اشتقاق په ډول جوړ شویدي چه که سړی لږ دقت وکړی او د کلماتو ریشې او نیلی ولټوی ډېر لغتونه یو له بله ارتباط او نزدېوالی لري- ډېر داسې لغتونه پیدا کېږی چه په ظاهره بسیط معلومېږی مګر هغه په حقیقت کښې مرکب وي، ډېر داسې لغات شته چه سړي ته په سر سری نظر داسې ایسی لکه چه له کوم بل لغت سره هیڅ اشتقاقی تناسب نلری او نه پکښې ترکیبی رنګ لېدل کېږی مګر حقیقت بل راز وي چه وروسته له تحقیق او څېړنی څه نه څه معلومېږی. پدی ځای کښې باید دا هم وویل شی چه دا بحث په هره ژبه کښې په ظنی اساس باندی بنا وي او داسې نشي کېدی چه د لغاتو په تحقیق او تحلیل او دغه راز تحقیقاتو کښې سړی هېڅکله سهوه نشي یا هر څه چه وائي هغه له اعتراضه خلاص وي.

یو تن له اروپائی پوهانو څخه وائي (د هتری) په سانسکرت کښې د دختر په معنی دی چه له (ده) څخه مشتق دی (ده) په سانسکرت کښې غوا لوشلو ته ویل کېږی او هر کله چه پخوا دغه کار هغو نجونو کاوه چه مېږونه به ئې نه درلودل او د پلار په کور کښې به وې نو په همدغه نامه وبلل شوې- دا تاویل د فارسی په (دختر) کښې هم تطبیق کېږی ځکه چه (دوختن) په فارسی کښې د غوا لوشلو په معنی هم راځی نو (دخت) یا دختر ورځنې ماخوذ کېدی شي.

همدارنګه د انګلیسی کلمی (سستر) په تحلیل کښې چه (جنی) ته ویل کېږی هم وائی چه (سستر) د تارو رېشلو معنی لری او د دی لامله چه پخوا به د انګلیسی جونو کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

تار وربشل و، نو سستر ورته وويل شوه. يو بل تن د ژبی له پوهانو څخه وائي چه (دوشيزه) په اول کښې ورې جنۍ ته ويل کيده چه په اورو به اختسل کېده او له (دوش) څخه دا کلمه جوړه شويده وروسته دې لغت خپل ځای بدل کړ او د پېغلی دپاره خاص شو چه اوس ورې جنۍ ته هڅو نه ويل کېږی. دغه راز تاويلات که څه هم د منلو وړ دي مګر که څوك پکښی خبرې پيدا کوی ښائی چه نور تاويلات هم پيدا کړی شی او په دغو تحليلاتو قانع نشی.

نو کيدی شی چه زمونږ پدی بحث کښې هم ځينې داسې خبرې وی چه څوك ورته ګوته ونيسی يا کوم بل تاويل وکړی مګر پدی باب کښې د هر راز نظرياتو ښکاره کول مفيد دی او د لغوی تحقيقاتو په لاره کښې ارو مرو څه رڼا پيدا کوی چه دغه دی مونږ ورباندې پيل کوو:

سپوږمۍ: په يقينی ډول ويلی شو چه دغه سپين ټيکلی (سپوږمۍ) له ډېرو وختو را ايسی د انسان توجه خپل ځانته را ګروزولې ده او په لمړيو وختو کښې ئې يو نوم ځانته پيدا کړيدی، که مونږ د پښتو په شعر او ادب کښې دا کلمه ولټوو ډېر زياته به موله نظره تيره شی او وبه پوهېږو چه زمونږ په عاميانه او عام ادب او لنډيو کښې دومره عموميت لري لکه چه ګل او بلبل، مې او ساقی خط و خال يا دا راز نور کلمات ئې په شرقی ادب خصوصاً په فارسی کښې لري. مګر ويلی شو چه دا کلمه په لمړۍ ورځ په همدغه کيف او مقدار نه وه پيدا شوی بلکه له دوو کلمو څخه ئې ترکيب موندلی.

که مونږ د شعرا ديوانونه وګورو ډېر ځايونه د سپوږمۍ په ځای (وږمۍ) او (وږمکه) پيدا کوو او پوهېږو چه دا کلمه پخوا (وږمۍ) وه چه وروسته ورسره يوه بله کلمه (سپينه) زياته شوی او سپوږمۍ شويده لکه چه (ترووږمۍ) له توری وږمۍ ترکيب موندلی او نن لکه يوه بسيطه کلمه په نظر راځی.

لکه چه په فارسی کښې (ماه) د سپوږمۍ او د مياشتی دواړو معنی لری يا په عربی کښې (شهر) اصلاً د سپوږمۍ په معنی وه او وروسته ئې د شمسي او قمری مياشتو مفهوم پيدا کړيدی او په پښتو کښې هم مياشت سپوږمۍ او دغو معدودو ورځو ته په مشترك ډول ويل کېږی همدغه راز سپوږمۍ هم کله د مياشتی او شپو ورځو په معنی راځی چه (تروږمۍ) تورو شپو ته او سپوږمۍ سپينو او رڼا شپو ته ويل کېږی.

دلته: پدې کلمه کښې هم ترکيبی رنګ ښکاره دی که څه هم په ظاهره ډېره بسيطه ايسی- د دی لغت يو جز (دا) او بل جزئی (لته) دی چه د ځای معنی لری لکه چه د پښتو په قاموسو کښې هم په همدغه معنی قيد دی. (دا) هم د پښتو مستعمله کلمه ده چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نږدې اشاره دپاره استعمالیږی او د دواړو جزو له ترکیب څخه د (اینجا) معنی پیدا کیږی.

ځینې پښتانه (دالته) عیناً د (دلته) په عوض وائي او د (دا) الف هم نه غورځوی.

هلته- دا کلمه هم لکه (دلته) په اصل کښې (هالته) وه چه یو جزئی (ها) او بل جزئی (لته) دی لکه چه اوس هم ځینی پښتانه (هالته) د (هلته) په ځای وائي او د (آنجا) معنی لری ځکه چه (ها) بعیده اشاره ده او لته د ځای معنی لری نو د دواړو جزو له ترکیب څخه د آنجا مفهوم پیدا کیږی.

پشکال: چه د بارانو وخت او موسم ته وائي له (برشکال) څخه جوړشویدی چه (برش) په سانسکرت کښې باران ته وائی او (کال) د وخت په معنی دی برسات هم له (برش) سره اشتقاقی ارتباط لری.

تربور: دا کلمه په لمړی نظر معلومیږی چه یو جزئی (تره) او بل جزئی (بور) دی چه د فارسی له (پور) او د سانسکرت له (پوتر) یا (پتری) سره پوره قرابت لری ځکه چه په پښتو کښې هم (بور) د ځوی په معنی دی لکه چه په فارسی او سانسکرت کښې (پور) او (پوتر) همدغه معنی لری- د همدی لامله (بوره) او (بورچنده) هغې ښځې ته وائي چه ځوی ئی مړ وي او تربور هم د تره ځوی ته ویل کیږي.

ترله: دا لنډه کلمه هم له مرکبو کلمو څخه ده چه د تره لور ته ویل کیږی او له همدغو دوو کلمو څخه ئی ترکیب موندلی او ترخیم پکښې شویدی.

نهار: په پښتو کښې هغه چاته نهار ویل کیږي چه خوراك څه نلری او وږی پاته وی لکه چه وائی (فلانکی نهار دی څه نلری) یا (هغه مسافر بیګا نهار پاته شو او چا ورته څه را نه وړل) په سانسکرت او زړه فارسی کښې (اهار) طعام او خورش ته وائي چه په پښتو کښې په منفی ډول (نهار) مستعمل دی- د نن ورځې په عامیانه فارسی کښې (اهار) یو بل صورت پیدا کړی او (نار) شویدی مګر معنی ئی څه تغیر نه دی موندلی او د دې په ځای چه (بی اهار ماند) ووائی (بی نار ماند) ویل کیږی.

په پښتو کښې (ناری) هم له همدغې کورنۍ څخه دی.

ستوری: دا کلمه په پښتو کښې هماغه معنی لری چه په فارسی کښې ئی (ستاره) لری- په سانسکرت کښې (سور) هم د لمر په معنی دی چه د پښتو ستوری ته په لفظ او معنی کښې نږدی معلومیږی.

که ووایو چه (سترګه) هم له ستوری سره اشتقاقی علاقه لری بنائي چه له حقیقت څخه لری نه وي ځکه چه په پښتو کښې ستوری ته، سترګه هم وائي لکه چه د سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستورى د سحر سترګه بولي، او كله چه ډېر تياره وى نو هم وائي چه سترګه په سترګه نه ښکاري او غرض له لمړى سترګې ستورى وى.

غړوندى: څرګنده ده چه دا لغت دوه مستقل جُزَ لرى چه يو جزئى غاړه او بل جزئې (وندى) دى چه وند د (بند) په معنى دى او دغه دوه تورى (و، ب) په ډېرو كلماتو كښې لكه (وياله، بياله) يو په بل بدلېږي- په پښتو كښې (وندنى) په مستقل صورت هم مستعمل دى چه د لوخو يوه مخصوص قسم پرې ته وائي او لوګرې پكښې لوى- او ګېډۍ ترى- همدارنګه (وندر) هم يو راز پړى دى چه غړوندى پكښې پراته وى او غوايان پرې ترل كېږي.

نو غړوندى بې له څه شك او شبهې د غاړى وندنى ته ويل كېږى چه تحت اللفظ ترجمه ئې (ګلوبند) دى كه څه هم د فارسى په اصطلاح كښې ګلوبند يوه ښايسته اميل ته ويل كېږي چه د تزين او آرايش دپاره په غاړه كښې اچول كېږي.

وګړى: پدى كلمه كښې دوه تاويلونه په نظر راځى يو دا چه وګړى يوه كلمه ده او له ګړېدلو څخه جوړه شوېده چه د ناطق او متلفظ معنى لرى- بل دا چه له (وى ګړى) څخه مركبه ده او دوه جزَ لرى چه (وى) د لفظ او قول په معنى دى لكه چه په زړوكتابو كښې ئى مومو او د (وينا) كلمه ئى هم تائيد كوى او (ګړى) يا (ګرى) د نسبت او فاعليت علامه ده چه له يوې بلې كلمې سره يو ځاى كېږى او داسى اسم صفت ورځنې جوړېږى چه د فعاليت معنى هم پكښې پرته وى لكه: ژرنده ګړى- لوګرى- اشرګرى يا داسې نور ...

د دې وروستى تاويل په لحاظ هم ويلى شو چه دا كلمه په اصل كښې د ناطق او متلفظ په معنى وه چه د انسانى حقيقى مفهوم دى، وروسته ئې په معنى كښې څه تغير او تحول راغلى او لږ څه ئې خپل رنګ بدل كړېدى.

پيمخى: له (پى) او (مخ) څخه جوړ شويدى چه اوس د ښكلى او ښايسته معنى لري او دومره عمومى مفهوم ئې پيدا كړى چه يوه ښايسته ټوپك ته هم پيمخى ټوپك ويل كيږي مګر په اصل كښې هغه چاته ويل كېده چه مخ به ئى په سپينوالى او لطافت كښې د پيو په شان و، چه هغه معنى په ټوپك كښې هيڅكله نه جوړېږى.

دغسې ډېر تركيبى كلمات په پښتو كښې شته چه پس له تركيبه ئې بله معنى پيدا كړېده او د اوسنى معنى په اعتبار د بسيطې كلمې حيث لري مګر لفظى صورت ئې تركيبى رنګ لرى لكه: يومخى چه پخپله تركيبى معنى كښې ئى څه تحول قبول كړېدى او د همدى لامله هر سړى ته يو مخى نه ويل كېږى كه څه هم هيڅوك دوه مخونه نلرى

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هر څوك د يوه مخ خاوند وی نو ويلی شو چه اوس يومخی د خپلی معنی په لحاظ چه صادق سږي ته ويل کېږی يوه بسيطه کلمه ده- همدارنګه زړه سواندی، سرتور، خوابدی، تېټ سترګی، زړه تورن، زړور، او داسی نور ...له همدغسې لغاتو څخه دي چه وروسته له ترکيبه ئې بسيط حيث پيدا کړی او دريم لغت ورځنې جوړ شويدی مګر بالعکس ځينې داسې مرکب کلمات هم شته چه لفظی صورت ئې په ظاهره بسيط معلومېږی مګر په معنی کښې ئې ترکيبی رنګ ښکاره وی لکه (ښنګه چه له (څه رنګه) څخه مرکب دی او همدغه ترکيبی معنی ئې ساتلی ده.

نغری: دا لغت له (نغرل) سره اشتقاقی ارتباط لری ځکه چه نغرل د خوړلو په معنی دی او نغری هم د جوړو پخولو ځای ته وائي او احتمال لري چه په لمړيو وختو کښې به د جوړلو ځای هم همدغه و، ځکه چه دا د نانخوی خونې وروسته پيدا شويدي او په ابتدا کښې ژوندون ډېر بسيط کيف درلود او اوس هم په کلوکښې زيات خلق دناستی په خونه کښې نغری لری او نغری په غاړه ډوډی خوری.

شوملی: دا کلمه هم د پښتو له يوه مصدر سره چه (شومل) دی اشتقاقی علاقه لری ځکه چه (شومل) د څکلو معنی لری او شوملی هم د څکلو شی دی او په لفظ کښې هم دومره ورته نژدی دی چه د حرکاتو په تعديل ورځنی هغه کلمه جوړېږی چه ځينی کسان ئی اسم مفعول او ځينی ئی صفت مشبه او يا په کوم بل نامه بولی.

موږ: له (مړی) سره لفظی او معنوی تناسب لری چه په ځينو ژبو کښې نه لېدل کېږی او همدغه تناسب ته اشتقاق وائي.

مړول او مړېدل چه دوه مصدرونه دي هم له همدی مادی ماخوذ دي.

مينځل: هر کله چه ظاهری تطهير او پاکوالی په مينځلو راځی او مينځل ورته ويل کېږی نو وروسته همدغه لغت په لږ لفظی تغير د معنوی پاکوالی او تقديس و تسبيح معنی هم پيدا کړه او (مانځل) ورځنی جوړ شوه مګر ښکه چه د لغاتو د تغير او تحول سلسله تل جاری ده او هيڅکله نه قطع کېږی نو له (مانځل) څخه هم د يوه بل تحول او انتقال په اثر کښې (مونځ) جوړ شو او د صلوة معنی ئې پيدا کړه ځکه چه په مانځه کښې هم د لوی ښتن (مانځنه) شته او بې د ځان له مينځله او ظاهری تطهير څخه نه ادا کېږی.

وروسته تر دي چه د دغه لغت ټول صورتونه په نظر کښې ونيسو نو ځرګندېږي چه (مينځل) نسبت وونځلو ته اصل او مرجح دی چه بايد په ليکلو کښې همدغه يو شکل او صورت غوره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندره: د دی لغت اصل او ریشه په سانسکرت کښې پیدا کولی شو او پوهېږو چه دا کلمه د دوو جزو څخه مرکبه ده ځکه چه په سانسکرت کښې (ناو) اواز ته وائي او (سو) هم د (خوش) په معنی دی چه له بلی کلمی سره د اختصار په ډول یو ځای کېږی او په سانسکرت کښې ئې په همدغه ترکیبی ډول مثالونه مومو لکه (سناد) چه خوش اواز ته ویل کېږی او (سکندھ) د خوشبو معنی لری چه په دواړو کلمو کښې له (سو) څخه یوازی (س) اخستل شوی او (کندھ) سره یوځای شویدی.

نو سندره هم د دی لامله چه په ښه اواز ویل کېږی او یوه خوږه نغمه وی د لفظ او معنی په اعتبار له (سناد) سره تناسب او اشتقاقی رابطه لري.

چرګی: د نغری غاړی او ماحول ته پښتانه (چرګی) وائي، ښائي چه دا لغت له (چرګی) اخستل شوی ځکه چه په ژمی کښې اکثر ځایونه خلق د نغری شاوخوا ته د خبرو اترو دپاره راټولېږی او د نغری غاړه په حقیقت کښې د چرګی ځای وی.

غږ: دا لغت په پښتو کښې معروف او مشهور دی چه په فارسی ئی (صدا) بولی مګر څومره چه په فارسی کښې (صدا) عمومیت لری او د هر شی اواز ته ویل کېږی غږ هغومره عمومیت نلری او د انسان په آواز پوري ډېر اختصاص لری. دی لغت د نورو لغتو په جوړېدو او پیدا کیدو کښې ډېره برخه اخستېده او څو لغتونه ورځخه جوړشویدی یعنی له یوی خوا ترینه د (غږېدل) مصدر جوړ شوی لکه چه د پښتو اکثر مصدرونه له همدغسې کلماتو څخه جوړېږی له بل خوا ورځنی د (غوږ) لغت جوړ شوی چه د (غږ) اورېدلو اله ده او ټینګ تعلق ورسره لري.

څنګه چه له (غږ) څخه د (غږېدل) مصدر جوړ شوی همدارنګه له (غوږ) ځنی هم د (نغوږل) مصدر پیدا شوی چه د نن ورځې په محاوره کښې نشته مګر په پخوانیو کتابو کښې له خپلو مشتقاتو سره لېدل کېږی.

اومږی: هغه تار چه سست او بی تاوه وی (اومږی) ورته وائي لکه چه تینګ او تاو کړی تار ته (مزی) ویل کېږی او یوه قوی او غښتلی سړی ته هم مزی وایه شی لکه چه بی قوته شی ته اومږی وائی او یوه داسی غږی ته چه حس او حرکت پکښې نه وی مړېږ ویل کېږی نو ویلی شو چه یا (اومږی) له مږی څخه جوړ شوی او یا (مږی) له اومږی څخه د نحت په اثر کښې پیدا شویدی.

پرتوګانې: په اصل کښې د پرتوګ وانې چه (وانې) او (وانبکی) د پړی په معنی دی او له پرتوګ سره په اضافی ډول مرکب شوی او اختصار پکښې راغلی دی- وروسته بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینی تلفظونو کښې (ګ) په (غ) بدل شوی او (پرتوغانښ) شویدی مګر لمړی تلفظ اصل او مرجح دی.

زمکه: د دې لغت په عوض په فارسی کښې (زمین) او په سانسکرت کښې (جما) ویل کېږی. د فارسی نوم په تحلیل کښې ئې د ژبې پوهان وائي چه (زم) د یخنۍ او سردی په معنی دی چه (زمستان) هم ورځنې ماخوذ دی نو د دی لامله چه د زمکی جرم او مخ سوړ دی نو زمین ورته وویل شوه.

د سانسکرت نوم په تحلیل کښې ئې هم وائي چه (جما) له (جنم) څخه مشتق دی او جنم د پیدایش په معنی دی نو هر کله چه زمکه د ټول مخلوق د پیدایش ځای دی نو (جما) ورته وویل شوه.

په پښتو کښې (زمکه) هم دغه لمړی تاویل ښه قبلوی او ویلی شو چه په پښتو هم یخ موسم ته (زمی) وائی لکه چه په فارسی ئې زمستان بولي نو زمکه په همدغه اعتبار چه یوه سره کره ده په دغه نامه بلل شویده.

که دېته وګورو چه زمکه د ژوند او زرغونېدو ځای دی ښائی چه له دی دوو لغتو سره ئې هم څه اشتقاقی ریشه پیدا کړو.

زمکه له زیم سره هم په لفظ کښې نژدېمعلومېږی نو کیدی شی چه زمکی ته پدی لحاظ چه اوبه او زیم ورځنی پیدا کېږی زمکه ویل شوی دی.

غل: دا لغت هم له ډېرو لغاتو سره لفظی او معنوی مناسبت او اشتقاقی علاقه لری یعنی غل، غلیم، غلول، غالی، غبل، چه په فارسی ئې (دغل) بولی د یوی کورنۍ لغتونه دی بلکه غلی او غلی کېدل هم له همدغی ځانګی څخه دي.

خوله: خوړل او خواړه له (خولی) سره لفظی او معنوی تناسب او اشتقاقی علاقه لري.

ځبل: ځوبل، ځبل او ځوبلول هم یو له بله جوړ شویدی.

کسل: لکه چه (کَسَیٌ) او (کسل) یو له بله جوړ شویدی او (کتل) هم ورته نژدی معلومېږی همدارنګه لېدل او لېمه هم یو له بله ماخوذ ښکاره کېږی.

تله: تلل او تول هم له تلی سره لفظاً د معنی قرابت لري.

مېلمه: په سانسکرت کښې (مهمان) د تعظیم معنی لری او (مها) هم معظم او مشر ته ویل کېږی نو هر کله چه مېلمه هم د عزت خاوند وی او هر څوك ئې تعظیم کوی هغه هم په دغه نامه وبلل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کښې مېلمه چه جمع ئې (مېلمانه) راځي له (مهمان) سره پوره قرابت لری او ویلی شو چه مېلمه هم په اصل کښې (مېلمان) و، او وروسته ورځنی الف او نون لوېدلی او مېلمه شوېدی- د دی دواړو تورو د لویدلو ډېر مثالونه هم په ژبه کښې شته او زیات شواهد لری د دې کلمی مونث چه (مېلمنه) راځي هغه هم د دې خبرې اثبات او تائید کوی چه (مېلمه) په اصل کښې نون درلود او وروسته ورځنی لویدلی دی، که نه هیڅکله داسی نه کېږی چه مذکر کښې نون نه وی او په مونث کښې زیات شی.

لومه: په سانسکرت کښې (لوم) د بدن و یښتانو ته وائی چه د پښتو لومه ورسره لغوي قرابت لری.

مشر: دا کلمه له (مها) او (مه) سره لغوی قرابت لری چه لمړی کلمه په سانسکرت کښې او دوهمه په فارسی کښې د لوی او بزرګ معنی لری.

کشر: په سانسکرت کښې (کشا) د خاشاك په معنی دی او په فارسی کښې (که) واړه ته ویل کېږی.

ورېشل: چه رېشل هم ویل کېږی د سانسکرت له (رشمی) سره چه تاروته ویل کېږی نږدی ښکاری- په پښتو کښې (رشمه) هم هغه مئین پړی ته وائی چه له تارو څخه جوړ شوی وی.

تنسته: په سانسکرت کښې تارو ته (تان) هم وائی چه د فارسی (تنیدن) او د پښتو (تنسته) ورسره اشتقاقی رابطه لری.

کلی، کلا، کور: دا دری واړه لغتونه یو له بله جوړ شوی او اشتقاقی علاقه لری، که څوك (کلا) له (قلعه) څخه مضغن بولی هغه به کلی او کور ته ملتفت نه وی.

سمسور: په پښتو کښی سمسور اوس د سر سبز او خرم و شاداب معنی لری او هر تازه باغ ته سمسور ویل کېږی مګر ښائی چه په اصل کښې به د ګلو سره چمن او ګلزار ته ویل کېده لکه چه په اشعارو کښې هم دا لغت د ګلو باغ سره زیات استعمال شویدی لکه:

| | |
|---|---|
| باغ د ګلو به سمسور وی مونږ به نه یو | د بلبلو به پری شور وی مونږ به نه یو |
| ګله به هله ورته وکړم | چه سمسور باغ دی نورو نه نیسی ګلونه |

وروسته په دغه معنی کښې تغیر او تحول راغلی او د سرسبزی معنی ئی پیدا کړېده د دې خبرې تائید او تصدیق دا هم کوی چه په سانسکرت کښې (سمن) مطلق ګل ته وائي او په فارسی کښې یوه مخصوص ګل ته ویل کېږی نو کېدی شی چه سمسور له (سم) چه د سمن مخفف دی او (سور) څخه مرکب شوی وی او اصلی معنی ئی سور ګلزار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون: چه د تېرې ورځې په معنی دی او کله د مطلق تېر او ګذشته په معنی راځي لکه پرون شپه، پرون ورځ، پروسکال- په سانسکرت او فارسی کښې هم نيلې او رېښې لري ځکه چه په سانسکرت کښې (پر) او په فارسی کښې (پارينه) د تېر او ګذشته معنی لري او (پار) هم په فارسی کښې تېر کال ته وائي.

اوره: اوريا، اورېدل او (اوره) يو له بله ماخوذ او مشتق دی.

مړاوی: له مړاوبی څخه مخفف دی.

مری: دا لغت په پښتو کښې دوه معنی لري يعنې هم ستونی او توتکی ته وائی او هم هغه شی ته ويل کېږی چه په فارسی ئی (موره) بولې او يوه مخصوص قسم ته ئې (مرواريد) هم وائی چه په پښتو ئی مرغلره بولي.

دا لغت له (موری) سره هم اشتقاقی علاقه لری چه په پښتو، فارسی او سانسکرت دری واړه ژبو کښې د اوبو تېرېدلو ځای ته وائی.

سوی: دا لغت په پښتو او فارسی دواړو کښې ظاهری قوارې او سر و صورت ته ويل کېږی چه وائي فلانکی ښه سوی لری او مراد ورځنی دغه ظاهري وضعيت او نمود وی.

په سانسکرت کښې (سويد) چه له (سوی) سره ډېر قرابت لری د خوی په معنی دی بلکه خوی له همدغې کلمې ماخوذ دی ځکه چه دا راز ډېرې کلمې شته چه په سانسکرت کښې په (س) او په پښتو او فارسی کښې په (خ) ويل کېږی لکه خسر چه په سانسکرت کښې (سوسر، شوسر) ويل کېږی يا لکه خور او خواهر چه په سانسکرت کښې ورته(سوسری) وائي نو ويلی شو چه سوی په اصل کښې د خوی په معنی و چه وروسته ئې معنوی تحول کړی او د ظاهري قوارې مفهوم ئی پيدا کړيدی.

همدارنګه خوی د پښتو او فارسی مشترك لغت دی چه په سانسکرت کښې هم ريشه لری.

کونډه: هغه ښځه چه مېړه ئی مړ وی کونډه ئې بولي- د دې لغت د معنی په تحليل کښې دوه نظريې د سړی فکر ته راځی چه هغه دواړه د (کونډ) د کلمی څخه ناشی دی ځکه چه کونډ په پښتو کښې برسېره پدې چه د (کونډی) د کلمی مذکر صورت دی دوه نوری معنا هم لری يعنی د غره سر او جګی څوکی ته چه ونی او بوټی نلري او بيخی وچه او سپېره وی هم کونډه ويل کېږی او بی ښکرو حيوان هم کونډ او کونډی بولی، له لمړی معنی څخه معلومېږی چه کونډه د دی لامله په دغه نامه ياده شوېده چه دا هم د مېړه دنه والی په سبب وچه وی او د زېږېدو او انتاج هيله ورځنې نشي کېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه معنی سړی ته دا القا کوی چه په پښتو کښې لکه چه بی ښکرو حیوان او بی ښاخونو ونی ته کونډ او کونډی ویل کیږی، خوار او عاجز سړي ته هم کونډ وائي ځکه چه په پښتو او فارسی دواړو ژبو کښې ښکر د قوت معنی افاده کوی لکه چه وائی فلانکی ښکر لری یائی ښکرونه ورمات کړه، که ئې له بزرګۍ ښکر شنه شی هم به دا کار ونکړی- نو هر کله چه کونډه هم په کلی او کور کښې عموماً خواره او عاجزه وی نو کونډه ورته وویل شوه.

سور: یوه مخصوص رنګ ته وائی چه په سانسکرت کښې ئی (شون) بولي- څوك چه د تورو له ابدال سره اشنا وی او پدی باب کښې څه مطالعات لری هغه به دا خبره په آسانۍ ومنی چه شون او سور یو له بله جوړ شویدی او پوره قرابت لری ځکه چه (س، ش) او همدارنګه (ر، ن) هر وخت یو په بل بدلیږی او ډیر مثالونه لری لکه: شته، سته- رنګړی، ننګړی- او داسی نور...

کارګه: په سانسکرت کښې (کاګ) همدغه معنی لری چه په پښتو کښې ئی کارغه او کارګه لری.

بیره: چه ځینی پښتانه ویره هم وائي په سانسکرت کښې (بهی) او په فارسی کښې (بیم) همدغه معنی لری او په ریشه کښې سره شریك دي.

ورندار: د ورو ښځی ته پښتانه ورندار وائي چه له ورور او (ندار) څخه مرکب لفظ دی مګر څه تخفیف او نحت پکښې شویدی لمړی جز خو معلوم دی او تفصیل ته هیڅ حاجت نلری- دوهم جز ئی په ترکیبی ډول په (تندار) کښې هم شته چه د تره ښځې ته وائي او له تره او (ندار) څخه ئې ترکیب موندلی دی.

نو ویلی شو چه (ندار) د ښځی په معنی دی او د سانسکرت له (ناری) سره چه هغه هم همدغه معنی لری لفظی او معنوی قرابت لری.

هغومره: همدغه راز څومره، دومره، له دوو جزو څخه مرکب لغتونه دي چه یو جزئی (مره) او بل جزئی (هغه، څو، دا) دی ځکه چه (مره) د اندازی معنی افاده کوی او د دي بل جز له یو ځای کېدو سره د (آنقدر، چقدر، اینقدر) معنی پیدا کوی.

هومره هم له هغومره او هماغومره څخه مخفف دی او ترکیبی لغت بلل کیږی.

همدارنګه هغسی، داسی یا هسی هم لکه هغومره، دومره او هومره ترکیبی وضعیت لري.

بخره: په فارسی او ژند کښې (بخش) د بخری معنی لري او په لفظ کښې هم ډیر سره نژدی دی، د دغی مشترکی ریښي په لحاظ ویلی شو چه (بخره) اصلی صورت او (برخه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

محرف صورت معلومېږی، د همدی لامله په زړو آثارو او دیوانو کښې عموماً بخره لیکل شوېده.

نیمګړی: له نیم کړی څخه جوړ شوی او کاف په ګاف بدل شویدی.

یوازې:- له یو وزری څخه مخفف دی.

ونج: د ځای معنی لری لکه چه (ګړونج) د ګړیو اینبودلو ځای ته وائي او داسی هم ویل کېږی چه ستا په ونج کښې مې روپۍ ورکړی یعنی ستا په ځای مې روپۍ ورکړې- نو که څوك ئی د عوض په معنی ترجمه کوی سهوه به وي.

روغبړ: چه د هر کلی معنی لری له (روغ اوسی او بړ بړ راشی) څخه د نحت په ډول جوړ شوی او له کلامه کلمه پیدا شوېده لکه چه د (هرکلی) کلمه له (هر کله راشی) څخه مخففه ده.

مړوند: د لاس بند ته ویل کېږی چه له (مټ) او (وند) څخه مرکب دی- وند په پښتو کښې د بند معنی لری لکه چه د غړوندی په بحث کښې پرې خبرې وشوې- مت هم د پښتو معروف لغت دی څوك چه د تورو او حروفو په ابدال کښې مطالعه لرې هغه به دا ومنې چه (ټ، ړ) ډېر ځله یو په بل بدلېږی لکه غړی او غټی یا داسی نور نو کېدی شی چه مړوند له مټ وند څخه جوړ شی.

لالی: وار د واره د سړي فکر ته دا راځی چه (لالی) به له لعل څخه جوړ شوی او د دې لامله چه لعل یو ښایسته شی دی په پښتو کښې د معشوق او محبوب دپاره استعمال شویدی مګر زما په ګمان لالی له (ګلالی) څخه د نحت په ډول پیدا شوی دی او له لعل څخه نه دی ماخوذ. ځکه چه یو خو د لفظ په لحاظ (لالی) ګلالی ته نژدی دی او بل دا چه ګل نسبت لعل ته زیات عمومیت لری او هر څوك ئی له ښایست نه ډېر متاثر کېږی نو له دغسې کلمی نه یوه کلمه جوړول قوی احتمال لري.

ادیره: یا هدیره چه د مقبرې معنی لري ځینی کسان ئی له (هډایری) څخه ماخوذ بولی او وائي چه مقبری ته په همدغه لحاظ چه هډونه پکښې ایری خاوری کېږی هدیره بلل کېږی ځینې نور وائي چه هدیره د عربی له (حضیری) څخه جوړه شویده او د مغناتو له جملی څخه ده.

زما په ګمان هدیره یا ادیره په اصل کښې (هادېره) وه چه (ها) د (هاغه) مخفف دی لکه چه اوس هم په ځینو محاورو کښې هاسړی د هاغه سړی یا د هغه سړی په معنی دی او د بعیدی اشارې کار ورکوی- ډېره هم په پښتو کښې د توقف او اوسېدو ځای ته وائي او د پښتو له مشهورو لغاتو څخه ده نو کېدی شی چه د دغې ډېری په مقابل کښې چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ د ژوند په حال کښې پکښې اوسېږو مقبرې ته (هادېره) ویل شوی چه پس له مړینې ورځو او د یوی ډېرې مثال پیدا کوي.

څپوتې: ښائي چه په اصل کښې به سرپوټې وه ځکه چه څپوټې هغه واړه ټیکرې ته وائې چه ایله سرپټوی او پوره ټیکرې نه وی نو کېدی شي چه سرپوټې څپوټې شوی وی او یو بسیط رنګ ئې پیدا کړی وي.

څوك چه په پښتو کښې لغوي مطالعه لري او لغاتو ته ښه ځیر شوی وی هغه به یقین وکړی چه د پښتو په لغاتو کښې د ترکیب و اشتقاق یوه قوی سلسله شته چه یو لغت له بل سره تړی او د هر لغت اصل او اساس په یوه ځلانده رڼا کښې ښئیې- مګر هر کله چه دغه بحث لږ څه نوی دی او دغه رڼا هم لږ څه سترګې برېښوی نو زه په ځینو لغاتو کښې خپل نظریات لا ښه نشم ښکاره کولی یعنی هغه څه چه د زړه د اشراق په رڼا کښې ئی وینم مګر د استدلال په رڼا کښې ئی نورو ته نشم ښودلی بل وخت ته ئې پرېږدم.

د مثال په ډول وایم چه ماته ځینې غټ غټ مصادر له یوه لغت څخه ماخوذ ښکاری لکه لورول او لورینه چه زما په ګمان د لور له کلمې نه پیدا شویدی ځکه چه د لورینې یو لوی مظهر دیوی مور دپاره خپله لور ده نو کېدی شي چه دغه مصدر د لور له لفظ څخه ریشه اخستې وی- همدارنګه احتمال لری چه (پېرزوینه) د (زوی) له کلمې اخستل شوی وی خو د دی لامله چه دغه راز بحثونه لا ځینې کسانو ته بدعت ښکاري او په ښه سترګه ورته نه ګوري زه وریوری نور نه ښنلم او محض د دی دپاره چه په نورو ژبو کښې هم د دغه راز تاویلاتو او نظریاتو امثال وښیم د جرجي زیدان له فلسفة اللغویه څخه د ده ځینې نظریات د ځینې عربی لغاتو په باب کښې رانقلوم چه دغه بحث څه علمی اعتبار پیدا کړي.

دا نوموړی او مشهور عالم عقیده لری او په خپل کتاب کښې ئې پوره ثابتوی چه د عربی اوږده کلمات لکه څلور حرفی، پنځه حرفی، شپږ حرفی یا داسی نور ارومرو له دری حرفی بلکه دوه حرفی کلمو څخه جوړ شویدي- دی ډېر دری حرفی کلمات لکه ځینې ادات له دوو جزو څخه مرکب ګڼي او وائي (بین) چه د ظرفیت کلمه ده له (با) حرف جر او (این) ظرف مکان څخه مرکبه ده همدارنګه (عند) له (عن) او (ید) څخه مرکب بولي.

کوم ادات او روابط چه په عربي کښې شته لکه حروف جاره یا داسی نور دا هم د ځینې کلماتو مخففات بولی او وائي چه دا ټول د نحت په اثر کښې له مستقلو کلماتو څخه جوړ شویدی لکه چه (با) د ظرفیت په معنی له (بیت) څخه مخفف دی ځکه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيت په سرياني ژبه کښې د (بين) او (فى) معنى ورکوى يعنى ددې په ځاى چه (بين القبور) يا (فى القبور) ووائى (بيت القبور) وائي- په کلدانى ژبه کښې (بى) همدغه معنى لرى چه په سرياني کښې ئې (بيت) او په عربي کښې ئې يوازى (با) يا (فى) لرى نو معلوميږى چه له (بيت) څخه (بى) او له (بى) څخه يوازى (با) پيدا شوې ده.

همدغه شان يوازى لام چه له حروف جاره ؤ څخه دى له (الى) او (الية) څخه چه د جهت او ناحيې معنى لرى مخفف ګڼى او وائي چه ادات او حروف معانى د مستقلو الفاظو بقايا دي چه په مرور د زمان ئې دغه صورت پيدا کړيدى.

که سړى تتبع او لټون وکړي په نورو ژبو کښې هم دغه راز روابط پيدا کولى شى چه د مستقلو کلماتو بقايا (پاته شونى) معلوميږى لکه د فارسى (در) چه له (درون) څخه مخفف دى او اوس هم در او درون دواړه ويل کيږى لکه: محتسب را درون خانه چه کار.

غرض دا دى چه دغه کلمات او الفاظ چه مونږ پرې ګړيږو په اصل کښې له څو محدودو اصلونو څخه د لفظى او معنوى تغير او تحول په اثر کښې پيدا شويدي او يوه اشتقاقى لاره ئې طى کړېده يعنى ځينې کلماتو د استعارى له لارى بلى معنى ته انتقال کړى او معنوى تحول پکښې راغلى دى او ځينې نورو د نحت او قلب يا ابدال په اثر کښې نوى صورتونه او آهنګونه پيدا کړيدي لکه چه زمخشري وائي د قسم په تورو کښې اصلى تورى (ب) ده چه وروسته په (و) او بيا په (ت) بدل شوى دى او د يوى معنى دپاره درى صورتونه پيدا شوه- د استعارى له لارى هم يو لغت د معنى په لحاظ ډېر ځايونه نيسى او د څو لغتونو کار ورکوى.

شهر په عربى کښې اصلاً د سپوږمۍ په معنى و لکه چه په سريانۍ کښې (سهر) هم همدغه معنى لرى، وروسته قمرى مياشتى چه د سپوږمۍ په اعتبار يو له بلې ببليږى په دغه نامه وبلل شوې او پس له هغه شمسى مياشتو ته هم شهور وويل شوه.

همدارنګه (نبى^ص^) چه پيغمبر ته وائى او د قاموسو خاوندان ئى (نبأ) يا (تنبأ) څخه ماخوذ او مشتق ګڼي چه د خبرولو معنى پکښې پرته ده په اصل کښې يوه پخوانۍ مصرى کلمه ده چه له (نب) او (ى) څخه مرکبه ده او د کاله يا کورنۍ مشر ته ويل کېده نو يهوديانو هم دا کلمه واخستله او په لمړى وخت کښې ئى خپلو نيکو او پلرو ته غوره کړه مګر وروسته ئې د انبياء دپاره خاصه کړه او تخصيص ئې ورکړه.

پخوا تر دې يهوديانو پيغمبر ته (رائى) ويل چه د (بينندهٔ غيب) معنى لرى.

په هره ژبه کښې الفاظ او کلمات همدغه راز آووښتى را اووښتى دى او سل رازه تغير و تحول کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د همدغه بدلون او اووښتو په اثر کښې له یوې ژبې څو ښاخونه او له یوه ښاخه څو ځانګې بېلې شویدي چه اوس په بېلو بېلو نومونو یادېږي او د ارتقا او تکامل په لحاظ یو له بله ښکاره فرقونه او ځانته ځانته خصوصیات لري.

د دې دپاره چه د ژبو عمومي وضعیت لږ څه رڼا شي په روستۍ بحث کښې ورباندې د اختصار په ډول غږېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژبو عمومی ویش

د دنیا مهمې ژبې په درې لویو او مهمو برخو بېلېږي چه هره برخه یو لوی اصل بلل کېږي او ځانته ځانګې لری چه دلته د یوی مختصرې نقشې په رڼا کښې ښودل کېږي.




دا پورتنی ویش او تقسیم د ټولو محققینو په نزد په همدغه یو راز نه دی یعنې د ځینې ژبو په باب کښې څه اختلاف نظر شته او پدې باب کښې چه پښتو لکه فارسی او هندی د سانسکرت یوه ځانګه ده پښتانه پوهان نور نظریات لري. یعنی دانشي منلی چه پښتو هم د سانسکرت هغه راز ځانګه ده لکه فارسی چه ده، ځکه دا دواړه ژبی له سانسکرت سره یو راز شباهت او یو ډول خپلوی نلری، لکه چه د مخه د پښتو او سانسکرت په بحث کښې هم څه اشاره ورته وشوه چه د ځینی عمومی او مشترکو صفاتو په لحاظ مونږ پښتو او سانسکرت لکه دوه لوی ښاخونه او فارسی لکه یوه ځانګه بللی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ مطلب له دې نقشي څخه يوازې هغه عمومي رڼا ده چه د ژبو لرى او نزدى قرابتونه په کُلى او اجمالي ډول ښئي.

که مونږ د ژبو په شاوخوا کښې تحقيق او پلټنه شروع کړو راته به څرګنده شي چه هره ژبه له بلې سره د خپل قرابت په اندازه لرِ او ډېر نزديوالى او خپلوى لري يعنې يوه اريائى ژبه هم له يوى سامى ژبې سره په ځينو لغاتو کښې لږ لږ قرابت ښئى مګر په هغه اندازه نه چه اريائى ژبې ئې پخپل مينځکښې لري ځکه چه د دوى خپلوى پخپل کور کښې زياته او ټينګه ده.

وګورئ! د لاتينى ژبى (اِس) د سانسکرت (اَس) د فارسى (است) د پښتو (سته) چه ټول په يوه معنى دى يو له بله خومره قرابت لري مګر دا قرابت په يوه سامى ژبه کښې لږيږى او دغه ريشه په عربى کښې يوازى په مففنى صورت مومو يعنى تنها په (ليس) کښې چه (لا) نافيه ده (ايس) د وجود په معنى ګورو او په نورو ځايو کښې ئې څه پته نشته.

همدارنګه د لاتينى (مېټر) د يونانى (ميتر) د سانسکرت (ماترى) د پښتو (مور) د فارسى (مادر) د انګليسى (مدر) چه ټول يوه معنى لري په اشتقاقى ريشه کښې نسبت د عربى (ام) د چينى (مو) او د قبطى ژبى (ماو) ته زيات قرابت لري.

ژبې د تعبير او افادى په لحاظ دوه ډوله دي چه مترقى او غير مترقي ئې بولي يعني هغه ژبې چه مطالب پکښې ادا کيږي او د انسان ډېر احتياجات رفع کوي هغې ته مترقى وائي او هغه بله غير مترقى بلل کيږي، مترقى ژبې بيا د تعريف او اشتقاق د قابليت په لحاظ دوه رازه دي چه متعرفه او غير متعرفه ئي بولي.

متعرفه ژبې هغه دي چه تعريف او د کلماتو تغير د الحاق او ادراج په صورت پخپله اصل کلمه کښې قبلوي او په دوو لويو ښاخونو بيليږى چه اريائى او سامى ئې بولي.

غير متعرفه ژبې هغه دي چه په اصل بنا يعني په نفس کلمه کښې تغير نه قبلوي او اشتقاق ئې د اداتو په الحاق اونښلولو صورت مومي لکه چه په ترکي ژبه کښې (ياز) کتابت او ليکلو ته وائي او ماضىئې د (دى) په نښلولو جوړيږى يعنى (يازدى)ويل کيږي- که چيرى له دغى ماضى څخه بعيده ماضى جوړوى نو يوبل دى ورسره يوځاى کوى او (يازيدى) وائى چه (يازدى) د وليکه معنى لري او (يازيدى) د ليکلى و په معنى راځي. کله چه جمع ورځنې جوړوى نو د جمع ادات (لر) ورباندى زياتوى او (يازيدى لر) وائي او که غواړى چه نفى پرى داخله کړي نو د نفى ادات (م) د اصل کلمې او د ملحقاتو په مينځکښې راوړى (يازمديلر) وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومی ژبی چه له ترقۍ څخه لرې لوېدلي دي هلته ادات او د ارتباط حروف هم لږ دي او همدغه سبب دی چه په ځینې ځایو کښې ددې په ځای چه ووائی سړی ئې په لرګی ووازه- داسی وائي سړی ئي ووازه او لرګی ئې استعمال کړ یعنې د (په) په ځای یوه جمله استعمالوي.

د سامی ژبو یو واضح صفت دا دی چه د حرکاتو په تغیر د لغت معنی هم تغیر خوري او بله معنی پیدا کوی لکه (قَتَل، قُتِل، قَتلٌ) چه لمړی معلوم فعل دوهم مجهول فعل او دریم مصدر دی.

مګر بې د حرکاتو له تغیره بل فرق نلري او که حرکات لږ څخه اوړده شی نورې معناګانې هم پیدا کوي لکه (قاتل، قتول، قتیل) یا داسی نور ...

سامی او آریائی ژبې په دې یوه صفت کښې اشتراك لری چه دواړه د الحاق صورت د اشتقاق قابلیت لري مګر د سامی ژبو امتیاز دا دی چه د اشتقاق مهمه برخه ئې د حرکاتو په تغیر صورت مومي او هغه ادات چه مستقله معنی لری، هغه په یوی کلمې پورې نه نښلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژبو عمومی تاریخ

د ژبو تاریخ په دوو دورو باندې وېشل کېږی چه یو ی دورې ته تقلیدي او بلې ته نطقی دوره وائي.

په تقلیدی دوره کښې انسان له خپلو مقاصدو او اغراضو څخه د تقلید په ډول تعبیر کاوه یعنی که کله به ئې غوښته چه له یوې شبح څخه تعبیر وکړي نو د هغی صفات او وضعیت به ئې د تمثیل او تصویر په ډول ښکاره کول او په دغه راز به ئې نور پوهول. په دغه دوره کښې ژبې د طبعي اصواتو او اشاراتو څخه عبارت وه، او الفاظو یو بسیط وضعیت درلود چه د اسم او فعل و حرف فرق پکښې نه کېده. اشتقاق او تعریف هم نه وه لکه چه اوس هم ځینې ژبې دغه حال ته نزدې دي او په ځینو ځایو کښې لکه استرالیا او جنوبی امریکا بعضې خلق له خپل ټولو اغراضو تعبیر نشی کولی او له اشارتونو کار اخلی د همدې لامله د شپې له مخې یعنی په تیاره کښې د دوی مفاهمه نسبت ورځی ته تفاوت پیدا کوی. په اعدادو کښې هم د یوه او دوو دپاره کلمات لري او نور عددی الفاظ وروسره نشته یعنې یوه ته (نتات) او دوو ته (نایس) وائي نو که وغواړی چه دریم عدد هم افاده کړی یو او دوه سره جمع کوی (نایس نتات) وائی چه تحت اللفظ ترجمه ئی دوه او یو، راځی. همدارنګه د څلورو په ځای (نایس نایس) وائي او د پنځو په ځای (نایس نایس نتات) ویل کېږی چه (دوه دوه یو) ئې تحت اللفظ ترجمه ده ...

د ځینې معنا ګانو دپاره چه الفاظ نلری صلابت د تیرې په کلمه ئی افاده کوی او په دغه ډول خپل مطالب افاده کوی.

نطقی دوره:

په دې دوره کښې لغاتو لفظی تحول قبول کړی دی او د قلب و ابدال او نحت په اثر کښې ژبه له تقلیدی اصواتو مستقلو الفاظو ته را نقل شوېده مګر ادات او حروف او اشتقاقی صیغې پکښې نه وې او د اسم و فعل و حرف فرق پکښې هم نه کېده بلکه د قرینې په اعتبار یولفظ کله داسم، کله د فعل او کله د ادات په ډول استعمالېده. وروسته چه لغاتو په دوهمه درجه ارتقا وکړه نو د اسم او فعل په مینځکښې تمیز وشو مګر ادات او روابط لانه و پیدا شوي او نه اشتقاقی صیغې جوړی شوی وې، نو د اداتو او حروفو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای په مستقل کلمات ویل کېده لکه چه چینییان اوس هم د حرف جر (فی) معنی د وسط او مینځ په کلمه افاده کوي یعني د دې په ځای چه په کور کښې ووائی د کور د مینځ وائی او کله لا د یوه ادات په ځای یوه جمله هم استعمالوی لکه چه د مخه ئې یو مثال وښودل شو.

په دریمه درجه کښې چه لغاتو د ترقۍ بله مرحله طی کړه نو له الفاظو څخه حروف او ادات پیدا شوه او له اسماٴ او افعالو څخه حروف وزیږېدل خو سره له دې په افعالو کښې د جنس او عدد فرق نه کېده لکه چه اوس هم په پخوانیو مصری لغاتو (هیروګلیف) کښې د جنس او عدد تمیز نشته او هغه ادات چه په اریائی او سامی ژبو کښې شته په مصری ژبه کښې نشته.

په څلورمه مرحله کښې د جنس تمیز (مذکر، مونث) او عدد تمیز سره له اشتقاقه په ژبو کښې پیدا شو او وروسته تر دغې مرحلې په بله دوره کښې اعرابی تمیز په ژبو کښې ښکاره شو چه د کلمی د احوال له تغیر سره تغیر مومي لکه چه په عربی، یونانی، لاتینی او آلمانی ژبو کښې ئې وینو او په پښتو کښې هم لږو ډېر لیدل کېږي.

څنګه چه جرجی زیدان د ژبو او لغاتو په باب کښې خپله نظریه ښکاره کوي وائي چه د جنس تمیز یعني تذکیر او تانیث په ژبه کښې یو حادث شی دی او د عدد تمیز هم حادث دی، د همدی لامله تذکیر او تانیث په ژبو کښې تفاوت لري یعني په ځینو ژبو کښې ډېر او په ځینو کښې بیخی نه وي.

د ماضی او مضارع په اشتقاق کښې هم وائي چه یو لغت په لمړی وخت کښې له ماضیت او مضارع والی څخه خالی و، یعنی (ذهب) چه اوس ماضی بلل کېږی پخوائی د مطلق ذهاب معنی لرله او د زماني مفهوم پکښې نه و پروت نو که چېرې به ویونکی غوښته چه دغه ذهاب (تګ) په تېر وخت کښې وښئ اول به ئې (ذهب) ویلی او وروسته به ئی ضمیر راووړ یعنی (ذهب انت) به ئې ویلی او که به ئې مستقبل وخت په نظر کښې و، نو (انت ذهب) به ئې ویل یعنی د کلماتو د تقدیم او تاخیر په ذریعه به ئې ماضی او استقبال ته اشاره کوله، وروسته ورو رو د نحت په اثر کښې ضمایرو خپل ځینې اجزا وغورځول او یوازی (ت) پاته شوه چه (ذهبت) او (تذهیب) ورځنی جوړ شوه.

پدې ټولو خبرو کښې مطلب دا دی چه هرې ژبې د هغه تغیر او تحول په اثر کښې چه د ارتقا او تکامل په لاره کښې ارو مرو پېښېدونکی دی خپله ذخیره زیاته کړېده او هره ژبه د خپل موجوده وضعیت په رڼا کښې پېژندل کېږی چه د ارتقا څومره مراحل ئې طی کړیدی او د تکامل کومې دورې ته رسېدلی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم لغات چه مونږ اوس پرې کرېږو تر اوسه ئې ډېر رنګونه پیدا کړی او راز راز تحولات پکښې راغلی دی.
لکه چه په یوه باغ کښې د ځینې بوټو او ونو څخه نور نیالګي پیدا کېږی او هغه بیا نوی نیلی هرې خواته ځغلوی همدارنګه لغات هم دی چه د ترکیب او اشتقاق په اثر کښی خپل تعداد زیاتوی او وخت په وخت ډېرېږي.
په یوه ژبه کښې که ځینې نوو کلماتو ته احتیاج پیدا شي نو له هماغه کلماتو څخه جوړېږي چه په ژبه کښې وی او خلق ئې وائي.
کوم وخت چه په مکسیکو کښی لمړی ځل بېړی ولیدل شوه نو وار دواره ئې ورته (اکالی) وویل او دغه نوی شی ئې په دغه نامه وباله چه د اوبو کور ئې ترجمه ده یعنی د دغه شی له لیدو سره سم د خلقو ذهن ته دا راغله چه دا یوه کور دی چه په اوبو کښی سړی پکښی اوسېدلی شي.
په پښتو کښی چه ورته (بېړی) وائي ښائي چه پښتانه ئې د لیدو په وخت کښې د ماڼو ګانو وضعیت ته متوجه شوی وی چه هغوی د بېړی چلولو په وخت کښی ډېره بیړه او جدیت کوي چه بیړی ژر راواوزی او اوبه ئې ډېر ښکته یونسي.
په ځینې ژبو کښې غشی ته د لیندی ځوی وائي. ځینی خلق چه په قهر او غضب شي نو وائي چه په سینه کښې مې هډوکی را جګ شو لکه مونږ چه وایو په سترګو مې ورته توره شپه شوه. غونی مې زیږه شوه یا داسی نور ... او غرض مو د قهر او غضب حکایت وي نو ویلی شو چه په هر ځای او هره ژبه کښې د تعبیر او افادی ډولونه بېل دي چه د هغوی په حیاتی او عقلانی خصوصیاتو پورې اړه لری او د لغاتو پیدایښت هم له دغه تاثیر لاندې وي، همدغه د تعبیر او افادې بېلوالي او بل راز والی دی چه په هره ژبه کښې سړی ځینې خصوصیات وېني چه هغه د یوې ژبې سبك له بلې ژبې څخه بېلوی او د ژبو ممیزه صفات ئې بولي.
مونږ د یوې ژبې لغتونه په بله ژبه ترجمه کوو مګر دا ترجمه عیناً هماغه کیف نلری او نه پکښې هغه ادبي او انشائی رنګ و آهنګ په هغه اندازه ساتل کېږي ځکه چه لغات او اصطلاحات، تعبیرونه او متلونه تراکیب او جملات په ژبو کښې ارو مرو بل راز کېږي او بڼه ئې اوړی. هغه لغتونه چه په یوه ژبه کښې ځینې معانی د نورو لغاتو په مرسته او ګډون ادا کوي په بله ژبه کښې ئې نشي ادا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لغاتو تغیر او تحول

لکه چه انسانان او وګړي د عصر او زمانې په لحاظ یا د هیوادونو په اعتبار ظاهری او معنوی تغیرونه قبلوی یعنې کله لنډې او کله اوږدې جامې اغوندي، یو وخت یوه شی ته په ښه سترګه ګوری او بل وخت ئې په بد نظر وینی، کله له چا سره مینه او محبت لری او کله ورسره دښمني کوي یوه ورځ یوی خواته روان وی او بله ورځ بل لور ته مخه کړی همدغه راز لغات او کلمات هم دي خو ځینې الفاظ لکه صورت پرست اشخاص د لفظی او ظاهری تغیر استعداد لري او د زمان و مکان په اغیزه ئې ښه او ښېره بدلیږي او ځینې نور د معنوی تحول استقبال په ښه شان کوی او په معنی کښې ئې ژر ژر بدلون راځی، ځینی لغتونه داسې هم وي چه په دواړو خواو کښې تحول قبلوي او نور لغتونه ورځنې پیدا کیږي.

کوم معنوي تحول چه په لغاتو کښې پیښیږي هغه اکثره داسې وي چه یوه لغت له حسي دلالت څخه معنوی دلالت ته انتقال کړی وي لکه (پریکړه) چه په اصل کښې د ظاهری قطع دپاره وضع شوی او په حسی امورو کښې استعمالېده مګر وروسته د جګړو او خصوماتو فیصلی ته هم وویل شوه او یوه بله معنی ئې پیدا کړه.

د لفظي تحول مثالونه هم په ژبه کښې ډېر دي لکه: پښه، خپه- ژبه، زبه، جبه- غګ، ژغ- یا داسی نور ...

چه اوس د ځینو تغیر او تحول ښکاره دی او د ځینو لږ څه له نظره پټ ایسي چه هر څوك ورته نه ملتفت کیږي.

هر کله چه د لفظي تغیر مثالونه ډېر دي چه په لغوی څېړنه کښې د بدلېدونکو ځای بدلوونکو او لوېدونکو تورو په بحث کښې وښودل شوه او پدې کتاب کښې هم د پښتو او سانسکرت د لغوی قرابت په بحث کښې ډېر داسې مثالونه راغله چه د لفظي تغیر او تحول په اثر کښې له یوه اصل څخه جوړ شوي او دوه صورتونه ئې پیدا کړیدي نو دلته یوازې د معنوي تحول ځینې نمونې ښیو:

سیخ: په اصل کښې د اوسپنې یوې سمې او اوږدې آلې ته ویل کیږي چه د نغری اور پری لړي، وروسته ئې په پښتو کښی معنوی تحول وکړ او د سم (راست) معنی ئې پیدا کړه چه سخول مصدر هم ورځنې جوړ شو او ډېر اشتقاقات ورځنې کیږي.

اسك: زما په ګمان دا کلمه له (هسك) څخه د لفظی تغیر په اثر کښې جوړه شوېده او ددې لامله ئې د قرعی معنی پیدا کړېده چه په دغه راز قرعه کښې د یوه شی هسکولو ته هم ضرورت پیښیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوزه: اصلی معنی ئې همدغه د استشمام او تنفس آله ده چه د دواړو سترګو ترمینځ واقع ده او د مخ له اعضاؤ څخه حسابیږي.

مګر وروسته ئی د ننګ معنی هم پیدا کړېده او څوك چه یو داسې کار وکړي چه ننګ پرې په ځای کیږي نو وائي چه پوزه ئې په ځای کړه.

اوربدل: د یوه غږ آواز او احساس ته ویل کیږي چه د غوږو په ذریعه کیږي مګر وروسته ئی په مفهوم کښې د قبول معنی هم زیاته شوېده او خبره اوربدل د خبرې منلو په ځای ویل کیږي.

نغوړل: دا مصدر چه له غوږ څخه جوړ شوېدی او د شنیدن معنی لري وروسته ورځنې د لفظی تغیر په اثر کښې (نغوتل) جوړ شویدی چه هغه هم داسې اوربدلو ته وائی چه قبول او منښت ورسره وي یعنی له لفظی تغیر سره یو ځای معنوی تغیر هم پکښې لږ څه راغلی دی او په اخره کښې ئې د پیروی معنی ته انتقال کړی لکه چه (نغوته) په همدغه معنی استعمال شوېده.

تیاره: دا لغت چه د ظلمت معنی لري او بنائی چه په آریائی ژبو کښې مشترکه ریشه ولري د یوه څه لفظی تغیر په اثر کښې ورځنې (تور) جوړ شوی چه یوه مخصوص رنګ ته ویل کیږي او د سپین په مقابل کښې راځي ځکه چه هغه له تیارې سره شباهت لري، وروسته تر دې بیا تور یو بل معنوی تحول وکړ او د تهمت معنی ئې پیدا کړه ځکه چه پخوا به د داسې خلقو چه د یوه بد او ناوړه کار نسبت به ورته وشو مخونه توربدل او په کلو کښې به ګرزول کېده نو مخ توربدل د ګناکارۍ علامه وګڼل شوه او په پښتو کښې ګناګار ته مخ توری او تور مخی وویل شوه.

مخ: په اصل کښې ئی دغه معنی نه درلوده لکه چه اوس ئی خلق ورځنې اخلي او د لحاظ و خاطر په معنی ئی استعمالوی.

وچ: د لوند په مقابل کښې وضع شوېدی او اصلی معنی ئی (خشك) دی چه د لمر د حرارت او تودوالی تاثیر ګڼل کیږي مګر نن ئې دومره تعمیم پیدا کړی دی چه یوه داسې علمی مضمون ته چه ادبی خوږوالی پکښې نه وی هم وچ مضمون وائي او نږدې ده چه د خاص معنی هم افاده کړي لکه وچ قانوني سړی یا وچ زور چه د نن ورځې په محاوره کښې ویل کیږي او غرض ورځنې خالص وي.

ژبه: اوس ئی د وعدې او عهد و پیمان معنی هم پیدا کړه لکه ژبه کول چه د عهد کولو معنی لري مګر اصلی معنی ئې همدغه د ګړېدو او عهد کولو اله ده چه وروسته الفاظو او کلماتو ته هم وویل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تود: اصلي معنی ئې حرارت او ګرمی ده چه د اور یا لمر په اثر کښې پیدا کېږي مګر وروسته ئی د شدت معنی هم پیدا کړه یعنې شدید جنګ ته هم تود جنګ وويل شوه او تود مجلس لا هم ویل کېږي.

سور: اصلاً یوازی دغه مخصوص رنګ ته ویل کېده وروسته د قهر او غضب په معنی سور کېدل استعمال شو او کله چه دوه تنه یو بل ته په قهر شي نو وائي چه یو له بله سره شول.

مړ: دې لغت هم ورو رو او وخت په وخت ډېرې معنا ګانې پیدا کړی او په ډېرو ځایو کښې استعمال شو یعنې څنګه چه یوه بی روحه کالبوت ته مړ ویل کېږي همدارنګه د اور صفت هم کېدی شی او وائي چه اور مړ شو. اور ئې مړ کړ.

مړې اوښکې- مړې خبرې- مړې سترګې- لا هم ویل کېږی او په داسی ځایو کښې استعمالېږی چه د حقیقی مرګ و ژوند هېڅ تصور پکښې نه کېږي ځکه چه حیات او ممات ته دومره عمومیت نشو ورکولی چه له مطلق جسم او جوهر څنې هغه خواهم تجاوز وکړي او اعتراضو ته ووېل شی یعنی خبرې پرې وستایو.

لاره: څرګنده ده چه د سبیل او طریق معنی لري مګر څومره چه په دغه معنی شهرت لري همدومره رسم و رواج، دود و دستور ته هم ویل کېږی- کله چه کوم پښتون د یوه ټبر مخصوص عادت او عرف بیانوی نو وائي چه په دوی کښې دا لاره تېره ده- کوم د روغی او جوړې قوانین چه په پښتنو کښې شته او جاری دی هغه هم لار بلل کېږي د همدې لامله په دې نږدې وختو کښې د پښتو ګرامر ته چه د ژبې قوانین بیانوي د پښتو لیاره ووېل شوه.

غاړه: هر څوك پوهېږی چه اصل معنی ئې (ګردن) دی مګر ورو رو ئې دومره تحولات کړیدی چه اوس ئې نیلې اوښاخونه ډېرو ځایو ته رسیدلی دی یعنې په حسی خوا کښې ئی دومره تعمیم پیدا کړی چه د سرك غاړه، د سیند غاړه، د نغری غاړه او دا راز نور ډېر صورتونه او ترکیبونه ئې پیدا کړیدی خو یوازې په همدغه یو راز عمومیت ئې اکتفا نه ده کړې په معنوي خوا کښې ئې هم تحول کړی او په داسی ځایو کښې لګه: پورېه غاړه مېږ مرداره- د ذمې معنی لري او غاړه بندېدل لا یو بل مفهوم هم ادا کوي.

له بلې خوا غاړکی- غاړه په غاړه کېدل- غاړه اېښودل د هر چا په غاړه تلل یا د هر چا په غاړه ژړل- نور ډېر اصطلاحی او لغوی معاني هم ښئي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختېه: مشهور لغت دی چه د (ګل و لای) معنی لری، وروسته د دې لامله چه بنیادم له خاورو او ختېو پیدا شویدی او د انسان اصل بلل کېږی د اصل او نسب په معنی هم استعمال شو لکه چه وائی په ختېه ښوك دی او غرض ئې د نسب پوښتنه وي.

کله لا ختېه د خرابۍ معنی ورکوی او داسی هم ویل کېږی چه طبیعت مې ختېه دی او مطلب ئی د طبیعت خرابی وي.

که مونږ د لغاتو دغه راز مجازی او اصطلاحی معاني لټوو پدې کښې هېڅ شك نشته چه دا بحث زښت ډېر اوږدېږي او هر څومره چه دا کتاب غټوو هغومره غټېږي.

دا ټول معانی چه نن تاسې ته مجازي او اصطلاحي معلومېږي څه زمانه وروسته حقیقی رنګ پیدا کوي او ښوك ئې بیا نشي پېژندلی، ډېر ځله مجاز د حقیقت ځای نیسي او حقیقی معنی خوري، ډېر مخصوص اصطلاحات عمومیت پیدا کوی او د نحت او ابدال په اثر کښې د لغاتو ځای نیسي ځکه چه ژبه په هر وخت کښې او په هر ځای کښې د لفظی او معنوی تحول خواته روانه ده او هېڅ کله دا سیر نه قطع کېږي.

څنګه چه شاعران او عاشقان له خپلو معشوقو څخه راز راز تعبیرونه کوي یعنې کله ورته د ګلو لښته وائي او کله ئې زرکه او هوسۍ یا شنه کوتره بولي او دغه راز سل رنګه خطابونه ورته کوی. ښوك ئې له سترګو ډکې تمانچې او ګولۍ جوړوي او ځینې ئې له زلفو تورماران او منګری ساز وي همدغه شان عام وګړي هم پخپلو خبرو کښې راز راز تصرفات کوي او خپل تعبیرات بدلوي ځکه چه انسان په اصل کښې داسې پیدا شوی دی چه باید زاړه بوتان مات کړي او نوی پیدا کاندی، په هر څه کښې تصرف وکړي او هر شی ته نوې جامې واغوندي د همدې لامله هر وخت او په هر شی کښې تجدد او نوی والی غواړي او شاعران یا لیکونکی هم کوښښ کوی چه نوی مضامین او نوی تعبیرات پیدا کړي نو د دغه مطلب دپاره الفاظو ته هم نوی رنګ چه په تعبیراتو کښې غرابت پیدا شی او معانی هم خپل لباسونه نوی کړی.

سړی چه د کلماتو دغه راز توالد او تناسل په نظر کښې ونیسي هغه به باور وکړي چه که د جهان لوی لوی دریابونه توره سیاهی شي او د آسمان له ستورو څخه قلمونه جوړ شی بیا هم هغه کلمات چه د علم او پوهې په دنیا کښې پیدا کېږي او د لوی خدای په علم کښې شته تمامښت نلري په همدغه ځای کښې انسان خپلې محدودې احاطې ته ملتفت کېږي او یقین کوي چه زه لکه شیدا بلبل د دې لوی جهان په نا محدود باغ کښې د یوه ګل په پاڼو کښې مطالعه لرم او زما نغمه د همدغه یوه ګل د جلوی اثر دی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیری زما په دغه نغمه او کوچنی اثر کښې څه سهوې وی هغه به هوښیاران معاف وبولي او دا وینا به لکه د بلبل نغمه د تش آهنګ په لحاظ خوښه کړي.

**پای**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**